www.sikaraam.com

د شعرونو ټولګه:

# دا بوټي به لونګ شي

درويش دُراني

۲۰۰۹ع

www.sikaraam.com

د چاپ واک يې له شاعر سره دے

## کتاب پېژندنه :


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | دا بوټې به لونګ شي |
| شاعـــــر | :: | درويش دُرانے |
| خپروونکے | :: | |
| چاپ کال | :: | ۲۰۰۹ع |
| چاپ شمېر | :: | يو زر (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوزوونکے | :: | بارکوال مياخېل |
| چاپ ځای | :: | يونايټيډ پريس- کوټه |

www.sikaraam.com

## لنډه پېژندنه :

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | عبیدالله |
| تخلص | : | درویش |
| ادبي نوم | : | درویش دُراني |
| په خټه | : | پوپلزی |
| اصلي ټاټوبی | : | ارغسان |
| اوسنی ټاټوبی | : | ګلستان |
| د استوګنې ځای | : | کوټه |
| وظیفه | : | (استاد) اسټنټ پروفیسر |

## چاپ کتابونه :

۱. اغزنه لار

۲. زخمي لاسونه

۳. هوا او څراغونه

۴. (ستوري په لمن کې)

۵. په کاڼي کې هینداره

٦. په ناورین پسې ناورین

۷. پښتو عروض

۸. دا بوټي به لونګ شي. همدا کتاب

www.sikaraam.com

# لړلیک


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ا | **خپلي خبري** ........................................ | ۱ |
| 1 | **د محمدﷺ پر قدم ما ایښود قدم راغلمه** .................. | ۱ |
| 2 | **چې څۀ لیکم، د محمدﷺ پکې خبره راشي** ............. | ۳۰ |
| 3 | **که د زړۀ د اوسېدلو ځای سینه ده** ........................... | ۳۱ |
| 4 | **په دې خلکو کې په خوا وه او اوس هم شته** ............. | ۳۲ |
| 5 | **یار ځکه د شوندېو د شکرو ماته ست کوي** ................. | ۳۳ |
| 6 | **چې بیا نۀ تُوره پورته شي نۀ سر په وینو رنګ شي** ........ | ۳۴ |
| 7 | **جانانه! نور څۀ ما لره اوس کم راځي په مخه** ............ | ۳۵ |
| 8 | **ښېرا کوي اثر خو خوږمن زړۀ به یې وي شاته** ........... | ۳٦ |
| 9 | **خلک نۀ غواړي چې ښکلي پرېشان شي** ..................... | ۳۷ |
| 10 | **تر سر لاندي یې وه توره، دَے ویدۀ ؤ** ....................... | ۳۸ |
| 11 | **ستا نوم یې واخست او له دره و ووت** ..................... | ۳۹ |
| 12 | **تر تا ښه نۀ وه خو په دې به تر تا ښه شوه سپوږمۍ** ....... | ۴۰ |
| 13 | **ځي په بدو کي تر پایه، نۀ وېرېږي** ........................ | ۴۱ |
| 14 | **جنګ د زړۀ په سر که یې اغزَے نۀ دے** .................. | ۴۲ |
| 15 | **چې پر ما و درېده شنخته، تۀ را و رسېدې** ............... | ۴۳ |
| 16 | **تلم دنیا ته له تا یاره، بېرته راغلم** ........................ | ۴۴ |

17 تر ګُمان لوړ دے او د خیال په هغه خوا دے جانان ....... ۴۵
18 په کږو سر شو کله هم پر سمه لار رانغے ..................... ۴۶
19 اوس به ترې چرته ځو، دلې واړه را و رسېدل ............ ۴۷
20 تهٔ د ګلاب پر پاڼو پروت زهٔ پر اغزو یم روان ............... ۴۸
21 دا کار خو د غلا کار دے که تهٔ غلا کولای نهٔ شې ......... ۴۹
22 نهٔ مو مړی خوند نهٔ مو وړهٔ سږ برکت لري ................. ۵۰
23 هر وخت نو تلای نهٔ شم تر کوره د خپل یار برابر .......... ۵۱
24 یو ځل کړي ځان درباندي ګران بیا درنه ډډه کوي .......... ۵۲
25 تر دنیا تېر شو خو له دې خوار ناخبره تېر شو .............. ۵۳
26 مُلا وي ناست په خپل محراب کي، زهٔ له یاره سره .......... ۵۴
27 زما د اوښکو څاڅکي دي جهان دے نور څهٔ نشته .......... ۵۵
28 کښېنمه، له غمه سره و ژاړم ...................................... ۵٦
29 ګل غوندي خو نه یې چي بس تېر به کړې سپرلَے دلې ..... ۵۷
30 مړې سترګي کړي را پورته، بیا ځي پر خپله لاره .......... ۵۸
31 هیله پرې کړه له سهاره او څراغ درسره راوړه ............. ۵۹
32 په کوم ځای کي چي یې تهٔ هلته زهٔ نهٔ یم ................ ٦۰
33 کوټ اخلي، که زر اخلي درویشه! او که زړهٔ اخلي ........ ٦۱
34 خدای چي درکړي دي دا ښې خو یو څهٔ چل به کوې ......... ٦۲
35 لکه په خاورو چي توده وینه د زړهٔ ګډوي .................. ٦۳
36 له زړهٔ دي یادومه چي په خُلهٔ دي یادوم .................... ٦۴
37 که یې نهٔ پېژنې دغه یې نښان دے ........................... ٦۵

38 د ژوندانهٔ پر لویه لار چې هر قدم اخلمه .................. ٦٦
39 ګوره د سپین مخ د لټون نتیجه څهٔ را خېژي .............. ٦٧
40 جنګ تر منځ زما او د رقیب د سپینو سرو نهٔ دے ......... ٦٨
41 کورونه که مو بېل دي، څراغ مو سر ګډ دے ............. ٦٩
42 هر څومره که ډېر وینو سرِي بیا هم سرَے نشته ............ ٧٠
43 له کومه وخته چې دوی یو پر بل ګزار نهٔ کوي ........... ٧١
44 ما که نهٔ ویني ړنده ده، زهٔ یې وینم ........................ ٧٢
45 وینه که یې تویه پاس پر مځکه شي ........................ ٧٣
46 په هغو ورځو کي لږِ سم وو خلک ............................ ٧۴
۴٧ لاس یې پروت زما پر سر ؤ اوس یې پورته کړ دعا ته ...... ٧۵
۴٨ زما پرې څهٔ که بل که مړ دے څراغ ........................ ٧٦
۴٩ نهٔ اوري، خو بیا هم کوه خیال خبره وا نهٔ وري .......... ٧٧
۵٠ دومره ماته هم معلوم ستا د کور حال دے ................. ٧٨
۵١ ځمه وزم تر دا اور و هغه خواته ............................. ٧٩
۵٢ دښمن ته وارخطا نهٔ وو له خپله وېرېدل .................. ٨٠
۵٣ عجبه دا ده چې نصیب راسره روغه وکړه .................. ٨١
۵۴ څوک وتلے نهٔ دے روغ ستا له ګردابه ..................... ٨٢
۵۵ ځواني له سرِي یوسي، تور وېښتهٔ له سرِي واخلي ........ ٨٣
۵٦ خطا مي دا وه چې پر پلونو د مجنون راغلمه .............. ٨۴
۵٧ مستو څپو ته د دریاب تهٔ لاس را و غزوې ................ ٨۵
۵٨ چې به مي ځان ښهٔ سم در و ښود نو به تېر شومه زهٔ .... ٨٦

۵۹ را روان شوے د همدغه کار دپاره وم زهٔ .................... ۸۷
٦۰ نور که هر څنګه دے خو دا يې د نر کار کړے دے ........ ۸۸
٦۱ چې پر ما باندې څومره ګران دے هغه نهٔ دے خبر ........ ۸۹
٦۲ د سپين مخ څراغ يې بل دے پتنګان باندې را ګرځي .. ۹۰
٦۳ په حال پوره نهٔ دے خبر، څوک يې را و ګرځوئ ......... ۹۱
٦۴ د قاتل تېغ چې ښکلوم دومره په مينه باندې ............ ۹۲
٦۵ زموږ هغه زخمونه جوړ نهٔ دي، دے بيا روان شو .......... ۹۳
٦٦ اول ښکار کاندې يو زړهٔ او بيا يې پرېږدي ................ ۹۴
٦۷ رُعب يوې خوا ته کړه، جلال له ميانه و باسه ............. ۹۵
٦۸ دَے له واره و ساتم که تا له واره و ساتم .................. ۹٦
٦۹ عجب سړَے دے تل نيکي کوي بدي نهٔ کوي ............
۷۰ که تهٔ له ياره يې روان که يار له تا روان وي ............... ۳۰
۷۱ د ژوندانهٔ تر ټولو غوره نښاني ورکه شوه .................... ۳۱
۷۲ يار ويَل زهٔ تر تا د ښار دا لېونے ښهٔ بولم ................... ۳۲
۷۳ تهٔ که پټ يې له دنيا، و ماته ښکارې ....................... ۳۳
۷۴ څالاک دښمن يې نندارہ له لرې لرې کوي ................ ۳۴
۷۵ خېر دے د امن ځای دنيا مهٔ بوله .......................... ۳۵
۷٦ ستا د ديدن لار چې په کومو شپو کې بنده نهٔ وي ....... ۳٦
۷۷ ژوند خو مقصد ته ويل کېږي، بې مقصده نهٔ شې ......... ۳۷
۷۸ له يَوهٔ زړهٔ څخه بل زړهٔ اخلې اور .......................... ۳۸
۷۹ دا مخامخ چې و دلبر ته ګورې ............................ ۳۹
۸۰ مهٔ منه دا چې په ديدن د يار توبه ماتېږي ............... ۴۰

نـظـمـونـــــــــــــــــــــــــــــه :

.........................................................


1 مزدوره ........................................... ۱۰۳

2 ځړه ........................................... ۱۰۹

3 بلنه ........................................... ۱۱۱

4 د ستر ګو رنځ ........................................... ۱۱۳

5 وَسوسې ........................................... ۱۱۵

6 د لاس نخښه ........................................... ۱۱۷

7 خالي تخت ........................................... ۱۱۸

8 هجرت ........................................... ۱۲۰

9 د ژړا ځای ........................................... ۱۲۲

10 سندري ........................................... ۱۲۴

11 د فطرت مرسته ........................................... ۱۲٦

12 د اوسپني کلا ........................................... ۱۲۸

13 لاربنود ........................................... ۱۳۰

14 د تن غړي ........................................... ۱۳۲

۱۵ زما شپېلۍ ........................................... ۱۱۳

۱٦ ورک ماشوم ........................................... ۱۱۵

۱۷ دېوال ........................................... ۱۱۷

۱۸ وَ اَنَّـهُـــــمْ يَـقُـوْلُـــــوْنَ مَـــــا لاَ يَـفْـعَـلُـــــوْنَ

.................................. ۱۱۸

۱۹ زما برخه ........................................... ۱۲۰


www.sikaraam.com

۲۰ کچکول ........................................................ ۱۲۲

# غزلي

د محمدﷺ پر قدم ما ایښود قدم راغلمه
خدایه! وم تاته را روان او دا یم سم راغلمه

له خوشحالیو سره زهٔ له تا ډېر لرې لاړم
خو بیا چې بېرته را په مخه کړمه غم، راغلمه

په خپل همت ما د ښو هیڅ یو کار هم نهٔ دے کړے
چې تاته راغلم نو دا هم ستا په کرم راغلمه

کله به خپل زړهٔ ته په تا پسې در ننوتم
کله به زهٔ درپسې خواته د حرم راغلمه

ستا د رحمت له برکته په پوره حساب شوم
کنې هر وار به زهٔ درویش په تالهٔ کم راغلمه

چي څهٔ ليکم، د محمدﷺ پکي خبره راشي
ګرځم په کاڼو کي په لاس مي ملغلره راشي

زما په زړهٔ کي وي ستا نوم، زهٔ په هغه ډاډه يم
زما دښمن د جنګ په وخت واغوندي زغره راشي

له دغه ځايه هغه هم بيا په الوت ځي مخته
چي ستا تر دره بې بڼکو، بې وزره راشي

زما پر زړهٔ باندي ستا نوم لکه ورېمه و لګي
زما پر ژبه ستا درود لکه شکره راشي

دي دوه جهانه يې د يار، درويش ته فرق نهٔ کوي
که مرګ په لار کي وکړي ځنډ، که ژر تر ژره راشي

○

که د زړهٔ د اوسېدلو ځای سینه ده
نو سینه د کایيناتو مدینه ده

چې یې نور واخلي، دنیا شي دړي وړي
ستا په لاس کې چې وي روغه آیینه ده

چې وي ستا په لټون، بې له هغه سترګې
ډوبه شوې بله هره سفینه ده

ستا مېَن په خپل وزر خېژي آسمان ته
جوړه کړې ورته نورو که زینه ده

که جنت ته ځي نو ستا پر لار به لاړ شي
برابره ستا درویش ته زمینه ده

○

په دې خلکو کې په خوا وه او اوس هم شته
د نفاق لویه بلا وه او اوس هم شته

د دیدن تږي خبر دي چې تر ښکلو
تاو د اوسپنې کلا وه او اوس هم شته

چې د حق پر لاره باندې به روان شوې
نو په مخ کې کربلا وه او اوس هم شته

ګرانې! ما مجنون ته و ویَل په خوب کې
ستا په وخت کې هم لېلا وه او اوس هم شته

یَوه داسې ډله وه په دې وطن کې
چې وژنه یې روا وه او اوس هم شته

۲ جولای ۲۰۰۵ع

○

يار ځکه د شونډو د شکرو ماته ست کوي
مال چي ورکوې د خدای په لار کي برکت کوي

کاڼي ته چي لاس کړم نو له پاسه دا آواز راشي
څله يې د خدای له ذکره باسې، عبادت کوي

زړهٔ که ور سپارې نو بېرته روغ په ګوتو نهٔ درځي
ښکلي همېشه په امانت کي خيانت کوي

چا توره اخستې ده په دې دنيا خپل حق غواړي
څوک و دې ته ناست دي چي حساب به په قيامت کوي

زهٔ د شک په سترګه د لستوڼي مار ته و ګورم
دُوی وايي دروېش خو له دوستانو هم نفرت کوي

*۱۲ جولای ۲۰۰۵ع*

چي بیا نهٔ تُوره پورته شي نهٔ سر په وینو رنګ شي
باداره! دغه جنګ دي د وطن آخري جنګ شي

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه شي، دا بوټي به لونګ شي

تر څو به دُوی په کلي کلي ګرځي دا به وایي
چي دا مینه دي ورانه شي او هغه کور دي ړنګ شي

تهٔ بله ډیوه نهٔ یې او که چرته ډیوه هم شې
له ما به هیله نهٔ کوې چي دے به مي پتنګ شي

که ګورې له لستوڼیه به یې سور خنجر را ووزي
درویشه! چي روان درسره څوک دلته پر څنګ

## شي

جانانه! نور ځۀ ما لره اوس کم راځي په مخه
چي هري خواته مخه کړم ستا غم راځي په مخه

چي تاته در روان يم يو عالم راسره درومي
له تا چي را روان شم يو عالم راځي په مخه

دا څوک په ډېر افسوس وايي: دنيا څومره کږه شوه
په زر کسه کي ما لره يو سم راځي په مخه

يو څوک مي پر ورغوي باندي بله ډېوه کښېږدي
د ميني په مزل کي چي تورتم راځي په مخه

8

مورِ غواړو چې هغو ته هم په ګوتو ورکړو تُوره

درویشه! خاوندان چې د قلم راځي په مخه

*۷ جولای ۲۰۰۷ع*

www.sikaraam.com

○

ښېرا کوي اثر خو خوږمن زړهٔ به يې وي شاته
په غشي که ويشتهٔ کوې لیندهٔ به يې وي شاته

دېوال مو دے په وړاندي نړوو يې خو پوهـ نهٔ يو
غمي به وي، ماران به وي که څهٔ به يې وي شاته

يو کاڼے مي را پرېووت پر سر باندي نابره
خبر نهٔ يم چي لاس د کوم ړاندهٔ به يې وي شاته

دُوی ټول په دې خوشحاله دي چي لمر هغه دے راغے
خو زهٔ په دې خفه يم چي تيارهٔ به يې وي شاته

د سپينو اوبو څاڅکي ته که خلک اوښکه وايي
درويشه! نو يو زړهٔ او دوه لېمهٔ به يې وي شاته

۵ جولای ۲۰۰۵ع

خلک نهٔ غواړي چې ښکلي پرېشان شي
بس له ورايه ورته وګوري، روان شي

دا چې هره ورځ ورکېږي دلته زړونه
هسې نهٔ چې ټول پر تا باندې تاوان شي

زړهٔ مې ستا دېرو بېورو داسې نرے کړ
چې رقيب شړېږ نو هم زما ارمان شي

تا که و خندل هغه وخت به سپرلے شي
ما که و ژړل هغه دم به باران شي

د دروېش خاورين وجود به هم سرهٔ زر شي
که دې شونډو ته نزدې لکه پېزوان شي

○

ترسر لاندي يې وه توره، دَے ويدهٔ ۇ
تا چې مور کړه باندي بوره دَے ويدهٔ ۇ

مخامخ راته بلا وه زهٔ ولاړ وم
وه يې سر ته ناسته حوره دَے ويدهٔ ۇ

د ماشوم سېلاني مور په کور کي نهٔ وه
ورته ناسته وه مزدوره دَے ويدهٔ ۇ

له غفلته چې يې واړه اولس لوټ شو
دے دا مشر بې قصوره، دَے ويدهٔ ۇ

ۇ دښمن خو ما چې وار باندي ونهٔ کړ
اے درويشه! وم مجبوره دَے ويدهٔ ۇ

۲۲ جولای ۲۰۰۵ع

○

ستا نوم یې واخست او له دره و ووت
د لښکر مخته بې لښکره و ووت

بیا به له ما د غفلت خوب شړي څوک
که مي اغزَے د زړهٔ له سره و ووت

زړهٔ یې را نهٔ کړ، یار زما له کوره
یوورله بېرته دا ډبره، و ووت

دروند ؤ چې ستا غم یې په زړهٔ کي پروت ؤ
سپک شو چې ستا خیال یې له سره و ووت

درویش پر تورو بلاګانو واوښت
چي کوم ساعت ستا له نظره و ووت

۲۶ جولای ۲۰۰۶ع

ترتا ښه نهٔ وه خو په دې به تر تا ښه شوه سپوږمۍ
د لرې لرې نه به کله را ښکاره شوه سپوږمۍ

ستا د راتلو وعده لا نهٔ ده پوره شوې اشنا
زر ځله نيمه شوه او زر ځله پوره شوه سپوږمۍ

مجنون سپوږمۍ ته ګوته ونيوه او و يې ويَل
دا وه په ورځ د ليلا مخ او اوس په شپه شوه سپوږمۍ

دا ويَل کېږي چې دوې خوندي له جنته راغلې
په هغه دوو کې يَوه تهٔ يې او يوه شوه سپوږمۍ

وم ستا د مخ په ننداره، زهٔ درويش نهٔ خبرېدم
چې کله پرېووت زېړے لمر، کله ښکاره شوه سپوږمۍ

○

ځي په بدو کي تر پايه، نۀ وېرېږي
دا اُمت هم اوس له خدايه نۀ وېرېږي

چي وي پروت پر خزانه هغه خو مار وي
دُوی به ولي له بدٙايه نۀ وېرېږي

دا وطن داسي وطن نۀ دے اشنايه!
چي اشنای به له اشنايه نۀ وېرېږي

زۀ وېرېږمه که نۀ، تۀ ښۀ خبر يې
خو دښمن وته مي وايه، نۀ وېرېږي

درويش اوس هم مار تر ستوني نيوے نۀ
شي

## دومره ده چي ترې له ورايه نۀ وېرېږي

۲۹ جولای ۲۰۰۵ع

جنګ د زړۀ په سر که يې اغزَے نۀ دے
هر څو که سړے ښکاري، سړَے نۀ دے

وي به مجنون هم له عاشقانو خو
مشر د دا ډلي زۀ يم، دَے نۀ دے

مورې يو په هر حال کي پلويان د ژوند
غوښتے مو دښمن له هم مرګَے نۀ دے

يار مي دے څراغ رقيب لوګے، مګر
دا لوګَے د دا څراغ لوګے نۀ دے

څڅ لره د یار په زلفو لاس وهې
وه درویشه! مار د لوبو شَے نۀ دے

۲۶ جولای ۲۰۰۵ع

چې پر ما و درېده شنخته، تۀ را و رسېدې
دا زۀ ژر لاړم که ناوخته تۀ را و رسېدې

غمه مننه دي کوم زۀ دي یواځې نۀ کړم
چرته چې بېل شومه له بخته تۀ را و رسېدې

په بده ورځ کې د وطن خدای خبر چرته ورک وې
چې بلا لرې شوه له تخته تۀ را و رسېدې

وایه د کومې بلا مخ له موړه واړاوۀ تا؟
وایه پر کومه یوه سخته تۀ را و رسېدې؟

درویش دي پرې نهٔ ښود چي خلک شي په جنګ
ورسره
چي شوه خبره يې کرخته تهٔ را و رسېدې

۲۸ جولای ۲۰۰۵ع

تلم دنيا ته له تا ياره، ببرته راغلم
را معلومه نهٔ وه لاره بېرته راغلم

له وطنه ستا له لاسه وم وتلے
و وطن ته ستا دپاره بېرته راغلم

د رقيب جنګ ته به بېرته ور روان شوم
چي کوم وخت به له دا کاره بېرته راغلم

**لکه لمر چي ماځیګر به تـګ ته اړ شوم**

**زهٔ به تاته تر سهاره بېرته راغلم**

○

**زهٔ په بدو پسې ووتم درویشه!**

**خو د خپل ضمیر له ډاره بېرته راغلم**

*۳۱ جولای ۲۰۰۵ع*

www.sikaraam.com

○

ترګمان لوَړ دے او د خیال په هغه خوا دے جانان
د دغه هر یَوهٔ دېوال په هغه خوا دے جانان

بارخو او شوندېي يو پړاو دے، دا منزل مهٔ ګڼه
پوهٔ شه چې ډېر د خپل جمال په هغه خوا دے جانان

شوم مخامخ به په هر حال کې له سرابه سره
شوه را معلومه د هر حال په هغه خوا دے جانان

د بېلتانهٔ تر لوی درياب په څهٔ کړاو را تېر شوم
اوس بيا دُوی وايي د وصال په هغه خوا دے جانان

درويشه! و زغمه دا ژوند لکه خنجر په زړهٔ کې
د دې عذاب، د دې وبال په هغه خوا دے جانان

۱۰ اګست ۲۰۰۵ع

په کږو سر شو کله هم پر سمه لار رانغے
زړهٔ د کار شے ؤ مګر ما لره په کار رانغے

زما په خيال چې ؤ څراغ هغه د شپې بل نهٔ شو
زما په فکر چې ؤ لمر هغه سهار رانغے

چا چې زړګے يووړ له ما هغهٔ دا ظلم وکړ
زما د سر وړلو دپاره دويم وار رانغے

چې خزانه په دې ويجاړو کنډوالو کې نشته
دا به مو هله زړهٔ ته و لوېږي که مار رانغے

په تنګ دي وايي درويش، اَخ دزړګي توان مي درومي
په نهٔ راتګ دي وايي اُف د زړه قرار رانغے

*۲۹ ستمبر ۲۰۰۶ع*

اوس به ترې چرته ځو، دلې واړه را و رسېدل
بېوزلي، وېره او وير درې واړه را و رسېدل

دنيا خو وه بس يَوه لار، لمر به د ورځې تېر شو
روښانه ستوري به د شپې واړه را و رسېدل

په حال خبرو خلکو هله زهٔ په حال خبر کړم
چې دښمنان تر دروازې واړه را و رسېدل

دننه نهٔ شول خپل خپل زړهٔ ته ستا د ديد دپاره
دا ساده ګان ستا تر کوڅې واړه را و رسېدل

ترې غمونه مې څښې وينه د زړګي درويشه!
دغه مرغان تر دې چينې واړه را و رسېدل

*۵ ا کتوبر ۲۰۰۶ ع*

○

تهٔ د ګلاب پر پاڼو پروت زهٔ پر اغزو یم روان
تهٔ به تر څو کوې دا خوب، زهٔ به تر څو یم روان

کله چې تهٔ راغلے نهٔ یې تر هغو یم زهٔ ناست
کله چې و نهٔ رسم تاته تر هغو یم روان

خود به مې ګرم ګڼې اشنا! تا وېل څه په منډه
زهٔ ستا له کوره یم روان مګر ورو ورو یم روان

مورِ جنګ ځپلو ته سېلاب هم یو لښکر ښکارېږي
توره مې واخسته او مخته د اوبو یم روان

ژوند بس تر هغه وخته ژوند ګڼم درویشه چې زهٔ
پر خپله مځکه یم روان، پر خپلو پښو یم روان

۱۵اکتوبر ۲۰۰۶ع

دا کار خو د غلا کار دے که تهٔ غلا کولای نهٔ شې
دروېشه! نو دیدن بیا د اشنا کولای نهٔ شې

ما و ویَل رقیب ته چې زهٔ لاړم د یار کور ته
دهٔ و ویل که زهٔ وم داسې بیا کولای نهٔ شې

خوږې شونډې دې ښکل کړې اوس په فکر د توبې یې
تا هغه کار خو وکړ مګر دا کولای نهٔ شې

دا نهٔ ده چې تا مینه د یثرب نهٔ پرېږدې تګ ته
دا و وایه سفر د کربلا کولای نهٔ شې

درویشه! شاعري له پلوشو اوبدله کېږي
شاعر نهٔ یې اوبدل که د رڼا کولاې نهٔ شې

۱۰ اکتوبر ۲۰۰۶ع

نهٔ مو مړی خوند نهٔ مو وړهٔ سږ برکت لري
ښکاري چې باچا مو بیا یو لوی ظلم ته نیت لري

ما ویَل اشنا یو سړَے ما ستا در ته نهٔ پرېږدي
دهٔ ویَل چې دا سړے دي تل خداې سلامت لري

زر د عزت شے دي په دنیا کې دا منم مګر
داسې خلک هم شته چې زر نهٔ لري عزت لري

څوک بس اغزے بد ګڼي او باسي یې له لاري نه
څوک بیا چې دا کار کوي نو هیله د جنت لري

ستا نوم يې په ياد دے که يې دا له ياده ونه ووت
غم د درويش نشته بيا توبه د آخرت لري

۱۰ اکتوبر ۲۰۰٦ع

هر وخت نو تلاى نۀ شم تر کوره د خپل يار برابر
زۀ دغه کار هله کوم چې مې شي وار برابر

ځي سمه لار خو نو تر ياره، ځکه نۀ وايم زۀ
رقيب ته دا چې خداى دي کړه پر سمه لار برابر

کله بس هسې درته و خاندي يو ښکلے چرته
کله بس هسې کړي څښتن د سرې کار برابر

شوه مرتبه مې تر دا نورو شهيدانو کمه
تر ټولو وروسته شو پر ما باندي ګزار برابر

مقام د کوم یَوۀ ښکارېږي درته لوَړ دروېشه!
دَے تخت ته وخوت، زۀ نصیب کړمه پر دار برابر

۲۷ اکتوبر ۲۰۰۷ع

○

یو ځل کړي ځان دربانديِ ګران بیا درنه ډډه کوي
یار مي کوڅې دے له یَوهٔ زړهٔ بل ته کډه کوي

ښایي د پوهي په زور تا کوهي ته پوري وهي
د تُوري څوکه خو یې وېره ستا له هډه کوي

هر یو وګړے د دې ښار په عجب رنځ اخته دے
ژبه یې سمه وي، خبره ګډه وډه کوي

یو یو سړے لکه په بار کي کوږ لړګے داسي وي
نهٔ لار له کلي سره باسي، نهٔ ترې کډه کوي

درویش یې خوښ نهٔ دے خو شعر د هغهٔ یې خوښ
دے

## مېوه د ونې خوري او کرکه يې له ډېره کوي

۳۰ اکتوبر ۲۰۰٦ع

تر دنيا تېر شو خو له دې خوار ناخبره تېر شو
چې د کوم ځۀ دپاره دَے له خپله سره تېر شو

ما به ويَل دا به هم ما رنګه وي يار شړلے
زما تر مخ چې به پر لار ځوک در په دره تېر شو

بس يو تېرۀ غوندي اغزے به مې په زړۀ کې مات شو
چې کوم ګل مخے به مې چرته له نظره تېر شو

ؤ په وژلو ګړندے او د دې فرق پرې نۀ ؤ
چې تر سر تېر شو د يو چا، که تر ډېره تېر شو

**اوس د هغهٔ له لاسه دے په لُوی عذاب مبتلا**

**د چا په هيله چي درويش دا ستا له دره تير شو**

*۱۰ نومبر۲۰۰۶ع*

○

مُلا وي ناست په خپل محراب کي، زهٔ له ياره سره
دلته اوس نهٔ لري څوک کار د بل له کاره سره

ستا د دوو سترګو رڼا ما له هم په کار راتلله
چي زهٔ و تهٔ به وو روان کله پر لاره سره

چي کومه کرښه ترېٖ را تاو اے هوده ګره کړه تا
شوم په هغې کي زهٔ هم بند پاته له ماره سره

فرق ستا د ښکلي او زما د بدرنګ مخ په ګورو
راځه چي دواړه مخته ونيسو هينداره سره

درويشه! خار خو وي د هر يوهٔ ګلاب په څنګ کي
مګر ګلاب مهٔ غواړه تهٔ له هره خاره سره

۲۹ دسمبر۲۰۰٦ع

زما د اوښکو څاڅکي دي جهان دے نور څۀ نشته
باران دے او باران دے او باران دے نور څۀ نشته

کوو يې، که هر څو د مستي مينې په سودا کې
تاوان دے او تاوان دے او تاوان دے نور څۀ نشته

که زۀ ورځنې ژاړم او که زۀ ورپسې ژاړم
جانان دے او جانان دے او جانان دے نور څۀ نشته

زما په شان به تۀ هم يو وخت وايې چې په ژوند کې
ارمان دے او ارمان دے او ارمان دے نور څۀ نشته

درويشه! چې دا دوه جهانه دواړه پرې روښان دي
قرآن دے او قرآن دے او قرآن دے نور څۀ نشته

۳۰ دسمبر ۲۰۰٦ع

○

کښېنمه، له غمه سره و ژاړم
ښۀ له دې همدمه سره و ژاړم

تۀ په غوړېدو د ګلاب و خانده
زۀ به له شبنمه سره و ژاړم

کله کله خپل غمونه هېر کړمه
لږ له نور عالمه سره و ژاړم

جګ په پښو اغزے مې، شي په زړۀ کې مات
زۀ له هر قدمه سره و ژاړم

جوړه شي درویشه! شاعري ترې نه
زۀ چې له قلمه سره و ژاړم

*۳۰ دسمبر ۲۰۰۶ع*

○

ګل غوندي خو نه يې چې بس تېر به کړې سپرلَے دلې
پاته شې په مني کي هم تهٔ لکه اغزَے دلې

څوک د جنګ مېدان ته ځي چې ځان مړګي ته و سپاري
څوک په ارام ناست دي وايي را به شي مرګے دلې

ما ويَل جانانه! تهٔ چې ځې زهٔ به يواځي شم
دهٔ رقيب را مخته کړ چې پاته به شي دَے دلې

داسي وارخطا شوه په ګودر کي په ليدلو مي
زړهٔ زما يې واخست او ترې پاته شو منګے دلې

دے درويش په خپل وجود کي داسي لکه دوه چې وي
کله وي هوسۍ دلې او کله وي زمرے دلې

۴ جنوري ۲۰۰۷ع

○

مړې سترګي کړي را پورته، بیا ځي پر خپله لاره
ما پوري وهي اور ته بیا ځي پر خپله لاره

د خپلي لاري خلک هم کاڼه را غوزار کړي
زما و نړاند کور ته بیا ځي پر خپله لاره

چي هر زورَور راشي، غرور يې دلته مات شي
سلام وکړي ستا زور ته بیا ځي پر خپله لاره

دنیا یو هنګامه ده، هر څوک چي ورته راشي
لږ غوږ شي دغه شور ته بیا ځي پر خپله لاره

درویش خو دومره پرېږده په ژوند کي درېدو ته
چي و ګوري ستا لور ته بیا ځي پر خپله لاره

۹ جون ۲۰۰۷ع

هيله پرې کړه له سهاره او ځراغ درسره راوړه
شپه اوږده و ګڼه ياره او ځراغ درسره راوړه

بُوري مور د خپل زُوی تُوره د خرڅلاو دپاره راکړه
چي دا يوسه تر بازاره او ځراغ درسره راوړه

نهٔ مي خپل مخ دے ليدلے، نهٔ به ستا څهره سهي کړم
تور زندان لره هينداره او ځراغ درسره راوړه

د نکير منکر حال راغے چي په قبر کي تيارهٔ ده
ځان په دې کړه خبرداره او ځراغ درسره راوړه

په راتګ دي توره بخته! درويش نور په تيارو پټ شي
ځان څهٔ سپين کړه له دې واره او ځراغ درسره راوړه

*۱۵ اګست ۲۰۰۷ع*

○

په کوم ځای کي چي يې تهٔ هلته زهٔ نهٔ يم
درسره وي زما زړهٔ هلته، زهٔ نهٔ يم

چي وي چرته کي سراب هلته ما غواړه
چي وي چرته کي اوبهٔ هلته زهٔ نهٔ يم

که راتګ غواړې تر ما په غم پسې شه
چي ښادي کړي چرته تلهٔ هلته زهٔ نهٔ يم

د جانان تر ځنګ ناسياله رقيب ناست دے
چي يم ورړ د کوم ځای زهٔ هلته زهٔ نهٔ يم

ما ويَل تهٔ خو د يار په زړهٔ کي اوسې
درويش و ويَل چي نهٔ هلته زهٔ نهٔ يم

۲۳ اګست ۲۰۰۷ع

○

کوټ اخلي، که زر اخلي درویشه! او که زړهٔ اخلي
خلک سوداګر دي دلته هر شے په تالهٔ اخلي

اور یېې لګېدلے په وطن دے دا وژل غواړي
بله کاسه نهٔ لري په سترګو کي اوبهٔ اخلي

څوک وایي جانان دي په خپل زړهٔ کي ماته ځای راکړي
څوک وایي دا ډېره ده چي نوم مي په ښه خُلهٔ اخلي

زړهٔ مي زخم زخم کړ چي کله وینه یاده شوه
اوښکي مي ور مخته کړېږ چي دُوی ویَل اوبهٔ اخلي

مینه به په زړونو کي د ښکلو را پیدا نهٔ کړي
دا د غرونو کاني دي، درویشه! دا اور نهٔ اخلي

*۵ نومبر ۲۰۰۷ع*

○

خدای چي درکړي دي دا ښې خو يو څۀ چل به کوې
که پر سکروټو باندي وي نو هم مزل به کوې

د يار د مخ د ښکلولو نيت کوې هره ورځ
د ثواب کار تش په نيت نۀ کېږي، عمل به کوې

جنګوې سترګي به يو ځل له يَوۀ ښکلي سره
که اتل نۀ يې هم دا يو کار د اتل به کوې

غدار وژل، دښمن شړل دي دوه لازم کارونه
که په دا دوو کي يو کول وي نو اول به کوې

درويشه! زۀ غواړم پښېمانه دښمن وبخښمه
مګر ياران وايي خبره د بدل به کوې

*۱۴ نومبر۲۰۰۷ع*

لکه په خاورو چې توده وینه د زړهٔ ګډوي
درویش په داسې درد په خپل کلام خوارهٔ ګډوي

د هر پې مخې پر بارخو چې خوله وینم، وایم
ګوره قدرت هم له شودو سره اوبهٔ ګډوي

دا سرے ورک ښهٔ دے چې ژوند یې دے د قام تریخ کړے
دغه لاس مات ښهٔ دے چې زهر په والهٔ ګډوي

دا ستا له ما تور شوے زړهٔ به هغه سپین کړي بېرته
ستا په بارخو کې چې له سپینو سره، سرهٔ ګډوي

زما تودې اوښکې د یار له سرد مهریه ښاڅې
درویشه! مینه له تودو سره سارهٔ ګډوي

*۱۶ نومبر ۲۰۰۷ع*

○

له زړهٔ دي يادومه چي په خُلهٔ دي يادوم
هر څهٔ له خياله و باسم چي زهٔ دي يادوم

چي دُوی وم زهير کړے هغه بد يې هېروم
چي تا وم نازولے هغه ښهٔ دي يادوم

زما د زړهٔ درزا ته دي لږ ونيسي خپل غوږ
که څوک داسي گُمان کوي چي نهٔ دي يادوم

چي ژبه مي د غم تر کانهي لاندي وي کوم وخت
زهٔ کار له اوښکو اخلم، په لېمهٔ دي يادوم

وطنه زهٔ درويش ستا اتلان نهٔ هېروم
ژونديو ته دي ډاډ ورکوم، مړهٔ دي يادوم

*۱۶ نومبر۲۰۰۷ع*

○

که یې نهٔ پېژني دغه یې نښان دے
چې په سترګه کې یې اوښکه وي انسان دے

ښادي بیا شوه د رقیب کره دننه
غم زما د کور و خواته را روان دے

زهٔ اوس هم وایم چې اوښکې پکې ډېر شي
بیا ژور تر سمندر د سترګې میان دے

په وړه خُلهٔ چې کوې لویه خبره
دا ستا غشے ولې غټ ستا تر کمان دے

د درویش د عمر څهٔ کوې پوښتنه
چې غزل لیکې تر اوسه خو نو ځوان دے

*۱۶ نومبر۲۰۰۷ع*

www.sikaraam.com

د ژوندانهٔ پر لویه لار چې هر قدم اخلمه
له خپله ځانه سره زهٔ یو نوے غم اخلمه

وړم د یَوهٔ دیدن دپاره د کلونو سترړیا
خواري په عشق کې ډېره کاړم، اُجرت کم اخلمه

د یار له در سره تړلے هر شے قدر غواړي
نور خو لا پرېږده د رقیب نوم به هم سم اخلمه

تاسي هم څهٔ ته چې اړتیا لرئ هغه شے واخلئ
زموږ په خوا زخمونه ډېر دي، زهٔ ملهم اخلمه

درواغجن یار وایي: ما زړهٔ د درویش وړے نهٔ
دے

# پر دې خبره باندې زر واره قسم اخلمه

○

*۱۸ نومبر۲۰۰۷ع*

ګوره د سپین مخ د لټون نتیجه څهٔ را خېژي
مزل په پښو کوم، تناکي مي پر زړهٔ را خېژي

والهٔ بهیږي د شودو، زهٔ یې پر غاړه ناست یم
چې ترې منګول را ډکومه نو اوبهٔ را خېژي

وطن زموږ مخته وچ دېګ دے، پر اور باندي پروت دے
د دوی دپاره ترې اووهٔ رنګه خوارهٔ را خېژي

خلک سپوږمۍ ته بره و ختل، نور بره خېژي
پښتون بېغمه په کوهي کي پروت دے، نهٔ را خېژي

د درویش زړهٔ دے سمندر پکي هر غم ډوبېږي
زړونه یې تنګ دي دا چې چیغي یې تر خُلهٔ را خېژي

*۱۸ نومبر ۲۰۰۷ع*

○

جنګ تر منځ زما او د رقیب د سپینو سرو نهٔ دے
دید د یار د مخ مو یو پر بل باندې پیرزو نهٔ دے

زړهٔ مې له مودو راسې د ښکلو په قبضه کې دے
څوک اوس دا مني چې دا زما دے د هغو نهٔ دے

ما ویَل چې زړهٔ مې شي په جوړ داسې څهٔ ووایه
تا ویَل چې دغه مات کودے د جوړېدو نهٔ دے

څوک وایي ستا ورک زړګے ستا خپلو اوښکو وړے دے
څوک وایي چې دا کار دے د ښکلو، د اوبو نهٔ دے

لیک د یار راغلے دے درویش ته، دے یې نهٔ لولي
وجه یې دا ښیي چې لیکلے په پښتو نهٔ دے

*۱۸ نومبر۲۰۰۷ء*

○

کورونه که مو بېل دي، څراغ مو سر ګډ دے
ملګرو! درد مو یو دے او داغ مو سر ګډ دے

که ژبې زمونږ دوې دي، خبره مو یوه ده
یو رنګه کوو فکر دماغ مو سر ګډ دے

که مَے پکې چا راکړل نو دواړه به پرې مست شو
که زهر وو نو مرو به، اياغ مو سر ګډ دے

دا خاوره که سرۀ زر شي نو دواړه به شتمن شو
راځه وطن ودان کړو، دا باغ مو سر ګډ دے

که ځای نن د سندرو کاغ کاغ د درویش ونیو
زغمو به يې په ګډه دا زاغ مو سر ګډ دے

*۱۹ نومبر۲۰۰۷ع*

www.sikaraam.com

هر څومره که ډېر وينو سرِي بيا هم سرََے نشته
ورِ د ښکلولو چي وي دا رنګه تندََے نشته

ما ويَل د ښکلو له کوڅې روغ را وتلے يم
اوس مي ورته پام شو، په کوګل کي مي زړګے نشته

زهٔ بيا هم په ښهٔ وخت کي د يار کوڅې له راغلمه
پلونه که هر څو د رقيب پاته دي خو دََے نشته

دا خو علامه د نيکمرغئ و ماته نهٔ ښکاري
هر سړے هوښيار دے په دې ښار کي لېونے نشته

دوی د رقيب زړهٔ راوړي درويشه! چي ور خوږ يې کړه
زهٔ دا ورته ووايم له ما سره اغزے نشته

*۲۰ نومبر ۲۰۰۷ع*

○

له کومه وخته چې دوی یو پر بل ګزار نهٔ کوي
دنیا خفه ده، وایي دا خلک خپل کار نهٔ کوي

ستا د بڼو څوکې هم عمر کړلې پڅې غوندې
ستا سترګې زړونو ته اوس هغسې ژر لار نهٔ کوي

دومره مې وکته ستا لار چې مې ځواني په تلو شوه
زهٔ بیا هم ناست یم خو ځواني نور انتظار نهٔ کوي

د یار د زړهٔ را اخستل وو ما اسان ګڼلې
دا مې ګُمان ؤ چې ډېره نو انکار نهٔ کوي

منم درویش جواب د خښتې ورکوي په کاڼي
خو پر هیچا باندې هم وار له مخه، وار نهٔ کوي

*۲۰ نومبر ۲۰۰۷ع*

○

ما که نهٔ وینې ړنده ده، زهٔ یې وینم
ښادي ستا کره مېشته ده زهٔ یې وینم

تهٔ یې نهٔ وینې د لمر په لکۍ پورې
چې تړلې توره شپه ده، زهٔ یې وینم

ونې ځای کړې په خپل ډډ کې او تهٔ پټ یې
در اخستې چا اره ده، زهٔ یې وینم

دے زما او د دنیا تړاو بس دومره
دا مې نهٔ وینې ویده ده زهٔ یې وینم

د درویش له شاعرۍ څه راته ګډ یې
که بېکاره ده که ښه ده زهٔ یې وینم

۲۱ نومبر ۲۰۰۷ع

○

وینه که یې تویه پاس پر مځکه شي
لویه ککرۍ به دي څۀ سپکه شي

یار ته تلم خو و رسېدم خدای ته زۀ
کله کله لار ښه وي چې ورکه شي

وینه په دې ځای کې په اوبو اوړي
زړۀ که دي راوړے وي، کونجکه شي

هر ښکلے، انسان وي او خطا کوي
زۀ چې پرې مَین شم ملایکه شي

نۀ یې کوې، کار که په درویش کوې
ورکه شي چې کله تر ملکه شي

۵ دسمبر ۲۰۰٦ع

○

په هغو ورځو کي لږ سم وو خلک
چي پر دې مځکه باندي کم وو خلک

زهٔ شوم له تا سره په لار کي پاته
روان چي لور ته د حرم وو خلک

چي خوشحالي به يې اوږده شوه لږه
په انتظار به بيا د غم وو خلک

زهٔ د مرغيو چونهار ته ولاړ
پر لاره باندي ماته تم وو خلک

درويش وو سم لکه الف د الله
چي د باچا په مخ کي خم وو خلک

۶ دسمبر۲۰۰۷ع

www.sikaraam.com

لاس یې پروت زما پر سر ؤ اوس یې پورته کړ دعا ته
چې پناه یې وه راکړې هغه ما سپارې مولا ته

ښکارېدل چې ستا له دره چا په زوره دې شړلي
یو څۀ خلک تلل په وړاندې خو بیا بیا یې کتل شاته

دا له ما اخستې مال به په قیامت راکوې بېرته
وړې له ما سر په مفته زما بار بلې دنیا ته

د دې ځای د څۀ وکړو بل هیڅ کار بې له دې نشته
چې زما د کوڅې لاره سمه و ښیې بلا ته

یو درویش که رښتیا وایې د درواغو په دې وخت کې
نو تر څو به خلک ناست وي د یَوۀ څراغ رڼا ته

○

زما پرې څۀ که بل که مړ دے ځراغ
زۀ په کوهي کي يم او لوَړ دے ځراغ

دا هم درواغ نۀ دي چي سوځي پتنګ
دا هم ربښتيا نۀ دي چي پړ دے ځراغ

ستا خپلي سترګي په غبار ډکي دي
نۀ رڼا خړه ده، نۀ خړ دے ځراغ

ځان کړئ د لمر وَ ښۀ راغلي ته تيار
شپه په وتو او مخ په ځوَړ دے ځراغ

درويشه! پوهـ نۀ وم چي يم ړوند شوے
چي شوم را ويښ، ما وې چي مړ دے ځراغ

*۸ دسمبر۲۰۰۷ع*

○

نۀ اوري، خو بيا هم کوه خيال خبره وا نۀ وري
دا د ميني راز دے چي دېوال خبره وا نۀ وري

راشي جانان راشي ماته ووايي چي څنګه يې؟
زۀ چي ورته وايمه خپل حال، خبره وا نۀ وري

هر زړۀ ته چي ووايمه دار دے پرې ونۀ ځانګې
شي هغه په زلفو پوري ټال خبره وا نۀ وري

هسي خو ژوندے يم مګر څۀ به يې ژوندے ګڼې
څوک چي د خپل يار له خلې په کال خبره وا نۀ وري

خوار دي اے درويشه! او دغسي به خوار پاته وي
څو چي پښتانۀ د لوی خوشحال خبره وا نۀ وري

*۱۰ دسمبر ۲۰۰۸ع*

دومره ماته هم معلوم ستا د کور حال دے
د جنت په دېوال پورې يې دېوال دے

د ښکلا په هغه دومره نندارو کې
ماته ياد بس يوه زنه ده، يو خال دے

خلک ما وينې چې ګرځمه پر مځکه
زړۀ مې نۀ وينې چې ستا په زلفو ټال دے

يو وخت تۀ دلته هر چا زما ګڼلې
مګر اوس د لړو خلکو دغه خيال دے

نن درويش د شپې راتګ ته دے
خوشحاله

## په لومړي ځل يې موندلے يو مشال دے

۱۲ دسمبر۲۰۰۷ء

ځمه وزم تر دا اور و هغه خواته
دے زما د جانان کور و هغه خواته

ما ویَل چې بیا به چرته سره وینو
زما یار ویَل د ګور و هغه خواته

له جانانه چې زهٔ شومه لرِ څهٔ لري
دهٔ ویَل راته چې نور و هغه خواته

شیخ، بیلتون، رقیب، افلاس او زهٔ په جنګ وو
یو دې خواته ؤ، څلور و هغه خواته

**د پردیو په دېِ جنګ کې اے درویشه!**
**زهٔ دې خواته، زما ورور و هغه خواته**

○

*۱۳ دسمبر۲۰۰۷ع*

دښمن ته وارخطا نۀ وو له خپله ویرېدل
چې ناست وو په مورچل کې یو له بله ویرېدل

نېکان هلته هم وو مګر په شمېر وو دومره کم
نېکې چې به یې چرته هم کوله ویرېدل

په دې ګُمان چې ور یې دښمان ور ټکوي
درزا چې یې د خپل زړۀ اورېدله ویرېدل

د ورور له جنګه خلاص نۀ وو چې ور یې کړې جواب
دا نۀ چې پښتانۀ نو له مُغله ویرېدل

درویشه! جابر یو ؤ او ځپلے ولس ډېر
خبر نۀ یم دا ډېر له یَوۀ څله ویرېدل

۱۴ دسمبر۲۰۰۷ع

عجبه دا ده چي نصيب راسره روغه وکړه
زما تر ټولو لوی رقيب راسره روغه وکړه

ما به غوښتل چي دا خبر دښمن ته هم و رسي
چي به کوم خپل او کوم قريب راسره روغه وکړه

زړهٔ ته مي و ويَل دماغ خو بيا تنګ کړے نهٔ يې
دهٔ ويَل نهٔ هغهٔ غريب راسره روغه وکړه

راته را غاړي ووت چي زهٔ خلکو ويشتم په کاڼو
دنيا خفه وه خو صليب راسره روغه وکړه

درويش چي وينې، يا به وايي يو شاعر خفه
شو

## او یا به وایي یو ادیب راسره روغه وکړه

۱۸ دسمبر۲۰۰۷ع

څوک وتلے نۀ دے روغ ستا له ګردابه
دا بې غاښو خُلۀ دي ماته شه دریابه

یو فقیر ویَل که بیا دي مستي وکړه
په کوزه کې به دي بند کړمه سېلابه

زۀ د خپل نصیب په خُوی ډېر ښۀ خبر یم
دا د وصل شپه به بیا کړي را خرابه

چې خپل یار ته یې د اوښکو پر ځای یوسم
د شبنم څاڅکي په پور راکړه ګلابه

لار د ځان د ایستو وه مګر درویشه!
بې ملګرو زهٔ وتم نهٔ له عذابه

۱۹ دسمبر۲۰۰۷ع

ځواني له سرې یوسي، تور وېښتهٔ له سرې واخلي
کرار کرار لګیا وي، وخت هر څهٔ له سرې واخلي

زمونږ دا غمخوارهٔ هم دي په شان د سوداګرو
تازه غمونه ورکړي چې زاړهٔ له سرې واخلي

و ښکلو ته دوهم ځل د کتو اجازه نشته
په دا نو په اول ځل هغوی زړهٔ له سرې واخلي

که څوک خاکساري پرېږدي نو یې نفس له قابو وزي
دښمن بیا زورَور شي چې چاړهٔ له سرې واخلي

www.sikaraam.com

درویشه! یو ځل شونډې در نږدې کړي او بیا لري
په ایشنده ګرمۍ کې یار اوبهٔ له سرې واخلي

۲۰ دسمبر۲۰۰۷ع

خطا مې دا وه چې پر پلونو د مجنون راغلمه
زهٔ د لیلا تر دروازې ستا په لټون راغلمه

ستا سترګو وړے زړهٔ مې وایي چې ما هیر کړه زیاتې
زهٔ یو غمے وم، خزانې ته د قارون راغلمه

ما ویَل بیا دې توره بخته خاوند مهٔ راوله
دهٔ ویَل راغلم او په شکل د بېلتون راغلمه

یار ویَل ما سبا را غوښتے وې، نن څله راغلې؟
ما ویَل نن راغلے نهٔ یم زهٔ پرون راغلمه

**د شاعرۍ سفر دے ګران، درویشه! ته خبر یې**

**چې تر دې ځایه زۀ په څنګه زړۀ چاودون راغلمه**

*۲۰ دسمبر۲۰۰۷ع*

www.sikaraam.com

○

مستو څپو ته د درياب تۀ لاس را و غزوې
زۀ چې اخستے يم سېلاب تۀ لاس را و غزوې

زۀ د اغزي څوکې ته ګورمه چې څۀ به کوي
کله چې خوا ته د ګلاب تۀ لاس را و غزوې

چې مرورو ته زۀ بيا لاس ورکول غواړمه
واړوي مخ دا نور احباب، تۀ لاس را و غزوې

ما د حالاتو په څپو کې په نظر کې ساتې
چې پښې مې ټينګې کړي ګرداب، تۀ لاس را و غزوې

زۀ درويش و وايم، څوک شته چې ما در پورته کړي لږ؟
چې بل څوک را نۀ کړي جواب تۀ لاس را و غزوې

۲۲ دسمبر۲۰۰۷ع

چي به مي ځان ښهٔ سم در و ښود نو به تېر شومه زهٔ
له هغې خوا چي به راتلم، ستا به بيا هېر شومه زهٔ

دښمن و نهٔ کړای شول چي ما پر لاره و ځنډوي
وخت مي خراب شو په يارانو کي چي ګېر شومه زهٔ

تا مي خبره کړله پرې که زما ژبه پرې شوه
يَوه شيبه خو د ګونګي انسان په څېر شومه زهٔ

هو، رقيبانو راته مخه وه نيولې مګر
په اسانۍ تر دې دېوال د غبار تېر شومه زهٔ

درويشه! پورته يې پر سر ومه ځړانده تُوره
شوم د دښمن د پښو اغزے چي کله زېر شومه زهٔ

۲۴ دسمبر۲۰۰۷ع

○

را روان شوے د همدغه کار دپاره وم زهٔ
د جابر سر یو بل چا غوڅ کړ چې پر لاره وم زهٔ

د وطن خاوره دا له چا سره خبري کوي؟
وايي چې تهٔ راغلے نهٔ وې ډېره خواره وم زهٔ

دا اوس چې تاسې راته ګورئ د ښیښې په سترګه
په شان د کاڼي ښکارېدمه چې بې یاره وم زهٔ

ده چې د هر ښایسته کور ته هره لاره تللې
تللے راغلے پر هغې په څو څو واره وم زهٔ

درویشه! خلکو وم یواځې یو شاعر منلے
نور یې ایستلے د سرېو له شماره وم زهٔ

۲٦ دسمبر۲۰۰۷ع

○

نور که هر څنګه دے خو دا يې د نر کار کړے دے
زما دښمن را باندي مخامخ ګزار کړے دے

ستا چي په کار دے زما زړهٔ نو دا دے در به يې کړم
هسي هر ښکلي چي دے غوښتے ما انکار کړے دے

پر رقيب باندي مي نيت بد ؤ خو هغه هم وايي
والله که ما په دې پوره کال کي ديدار کړے دے

يار چي را و شړلم، زهٔ لا رسېدلے نهٔ يم
د ځان په خوا مزل ما ډېر کرار کړے دے

يار به رتبه بيا د درويش تر هر مېَن کړي لوَړه
که يې دا وکتل چي چا ډېر انتظار کړے دے

*۲۷ دسمبر ۲۰۰۷ع*

○

چي پر ما باندي ځومره ګران دے هغه نۀ دے خبر
هاغه يو ښکلے چي روان دے هغه نۀ دے خبر

دا نور جهان زما د زړۀ په وړلو ټول خبر دے
مګر چي وړے کوم انسان دے هغه نۀ دے خبر

په حال د وږي دے يوائې دلته وږے خبر
څوک چي د دغه کلي خان دے هغه نۀ دے خبر

دښمن راغلے دے دننه ما په کور کي ترې
زما د کور چي نګهبان دے هغه نۀ دے خبر

درويش به څۀ زما د زړۀ د زخم قدر وکړي
چي دا د کوم غشي نښان دے هغه نۀ دے خبر

۲۸ دسمبر۲۰۰۷ع

www.sikaraam.com

○

د سپین مخ څراغ یې بل دے پتنګان باندي را ګرځي
یو زۀ لري یم له یاره نور جهان باندي را ګرځي

څوک په لُوی مزلۀ روان دي د کعبې طواف ته درومي
څوک په خپل کور کي دننه پر خپل ځان باندي را ګرځي

دغه دوه پهلوانان کړي یو پر بل باندي وارونه
دے انسان ولاړ په منځ کي او آسمان باندي را ګرځي

د کعبې طواف کوونکو زما زړۀ لیدلے نۀ دے
چي څۀ رنګ په رنګ غمونه په څۀ شان باندي را ګرځي

کله هم تر بله دره تللے نۀ یمه درویشه!
یو آستان دے چي د ژوند مي ټول داستان باندي را ګرځي

○

په حال پوره نۀ دے خبر، څوک يې را و ګرځوئ
ځي او بېځايه ښندي سر څوک يې را و ګرځوئ

بيا نۀ را ګرځي په هيڅ رنګ چي يو ځل توره واخلي
توره يې واخسته، مګر څوک يې را و ګرځوئ

دا کوم سړے چي يار ته نۀ ځي، په روزګار پسې ځي
پر لاره نۀ دے برابر څوک يې را و ګرځوئ

دغه لارښود خو به ډُوی هم ډوب کړي له ځانه سره
په لمر پسې شول ماځيګر، څوک يې را و ګرځوئ

درويش روان شو په سفر له داسي خلکو سره
چي په کېداى نۀ شي باور، څوک يې را و ګرځوئ

۲۹ دسمبر ۲۰۰۷ع

○

د قاتل تېغ چې ښکلوم دومره په مينه باندي
دا خو ږدم شونډې زهٔ پر خپله پاکه وينه باندي

نهٔ چرته وکړه چا دُعا زما د ژوند دپاره
نهٔ چاته ورغله ژړا زما پر مړينه باندي

يوې خبرې مو هم ځای نيولے نهٔ دے دلته
که سلام اچوو هم اوړو پر بې دينه باندي

پخپله وايي چې دا چاره د کېدلو نهٔ ده
بيا هم لګيا دي وينه مينځي دُوی په وينه باندي

چل د ښهٔ شعر د ليکلو دي بيا هم زده نهٔ شو
درويشه! تا که توره ږيره کړله سپينه باندي

*۲۹ دسمبر۲۰۰۷ع*

○

زمونږ هغه زخمونه جوړ نۀ دي، دے بيا روان شو
چې ترې راوړے يې ؤ شر په هغه خوا روان شو

بايد خوشحاله واى په دې چې يار دے بيا راغلے
خو ما ژړل چې بيا به څۀ کوم که بيا روان شو

شومه له ځانه سره زۀ هم په ژړا، چې کله
زما دښمن د زړُوى له قبره په ژړا روان شو

چې را روان ؤ کوم دښمن هغه يې ګډ ؤ سره
خو مخنيوي لره يې هر سړے جلا روان شو

تر دې به بله سخته ورځ پر درويش چرته راځي
راغے له تا سره محفل ته او بې تا روان شو

*۳۱ دسمبر ۲۰۰۷ع*

○

اول ښکار کاندي يو زړهٔ او بيا يې پرېږدي
وزر مات کړي د مرغهٔ او بيا يې پرېږدي

زړهٔ زاړهٔ غمونه پرېږدي، نوي خپل کړي
بيا هغه کاندي زاړهٔ او بيا يې پرېږدي

خدای دي داسي څوک پيدا کړي چي رقيب ته
کړي ور ماته په سُوک خُلهٔ او بيا يې پرېږدي

وايي دا لنده جامه ښښېځل غواړي
مَين و ژړوي ښهٔ او بيا يې پرېږدي

هر سخي چي دلته راشي اے درويشه!
خلک کړي په غم ماړهٔ او بيا يې پرېږدي

*۱۳ جنوري ۲۰۰۸ع*

○

رُعب یوې خوا ته کړه، جلال له میانه و باسه
ما که ځان ته بولې هر دېوال له میانه و باسه

داسي خو مي پام دا ستا له مخه دۀ ته هم اوړي
زۀ تش تا لیدل غواړمه، خال له میانه و باسه

ډېر درانۀ وګړي به تر خلي هم سپک و خېژي
تۀ لږ په تالۀ کي زر و مال له میانه و باسه

یاره د راتګ نېټه دي ورځو ته را لنډه کړه
میاشت له میانه وباسه او کال له میانه و باسه

یار درویش ته وایي چي بېلتون غریب هم حق لري
ډېر را سره پاته شو وصال له میانه و باسه

۲۴ فروري ۲۰۰۸ع

○

دَے له واره و ساتم که تا له واره و ساتم
زۀ په دغه جنګ کي څوک د چا له واره و ساتم

پلار چي باندي وار کوي، زوی هم ورباندي وار کوي
هغه ترې خوندي کړم او که دا له واره و ساتم

پای زما دپاره هغه توره بلا و ګرځي
زۀ چي کوم وګړے د بلا له واره و ساتم

نور نو په هر چل د جنګ پوهېږم توره بخته زۀ
یو دا کوے نۀ شم چي ځان ستا له واره و ساتم

بیا یو لاس را پورته شي او بیا را باندي وار وشي
زۀ چي اے درویشه! خپل ځان بیا له واره و ساتم

*۸ جنوري ۲۰۰۸ع*

www.sikaraam.com

○

عجب سړَے دے تل نېکي کوي بدي نهٔ کوي
د ګلاب دا بوټے ګلان کوي، اغزي نهٔ کوي

هسي د دهٔ به هم زړهٔ غواړي چي نن و بخښل شي
مګر دښمن ته د خپل ژوند په باب زاري نهٔ کوي

زما له زړهٔ څخه به ډېر ژر واى غمے جوړ شوے
پر دغه کاڼي باندي يار مګر خواري نهٔ کوي

د تن له ښاخه به دي ژوند داسي ناڅاپه لاړ شي
لکه الوت ته چي مرغهٔ هيڅ تياري نهٔ کوي

د درويش سر ته دښمن هم په درنه سترګه ګوري
ورلره ګرز لټوي، وار پرې د لرګي نهٔ کوي

۲ مارچ ۲۰۰۸ع

○

که تهٔ له یاره یې روان که یار له تا روان وي
دا هله خوند کوي چې تلونکے په ژړا روان وي

یم چې له یار سره روان نو زړهٔ مې ډېر خوږېږي
پر هغه چا باندې چې دغه وخت تنها روان وي

ما یَوه ورځ هم دا و نهٔ کړل چې له دهٔ روان شم
مګر دے هره ورځ خفه وي او له ما روان وي

وي د سهار په بانـګ دُوی هم را پاڅېدلي مګر
جمات ته نهٔ ځي، د سپېرهٔ سنګر په خوا روان وي

دښمن هم ښهٔ ښکاري درویشه! خو په داسې حال کې
چې تهٔ پر مخ یې ور روان او دَے پر شا روان وي

۱ ستمبر ۲۰۰۸ع

○

د ژوندانهٔ تر ټولو غوره نښاني ورکه شوه
په څپاند بحر کي د وخت رانه ځواني ورکه شوه

دريسې شوم چي ليونے، خلک حيران وو راته
چي ته يې و ليدې د ټولو حيراني ورکه شوه

چي ته به لاړې نو سپرلے به هم پيکه غوندي شو
چي ته به راغلې د خزان به وېراني ورکه شوه

خدای چي راکړې خوشحالي واخسته بېرته رانه
هله زما د ګاونډي پرېشاني ورکه شوه

درويشه! ته خو لا پر خپلو پښو اوس هم روان يې
نو دا په شعر کي دي ولي رواني ورکه شوه

۱۰ ستمبر ۲۰۰۸ع

www.sikaraam.com

○

يار وېَل زۀ تر تا د ښار دا ليونے ښۀ بولم
ما وېَل سم وا يې، زۀ هم تر خپل ځان دَے ښۀ بولم

ګوره وي څوک ورباندي ګران، په چا يې خوا بديږي
د يار د زړۀ دپاره زۀ اوس هر سړے ښۀ بولم

زۀ خو به هغه موسم ښۀ ګڼم چي يار مي راشي
نۀ و خزان ته وايم بد او نۀ سپرلے ښۀ بولم

و رقيبانو ته آزار رسول ډېر ښۀ کار دے
خو کله کله په دا کار کي هم زړسوے ښۀ بولم

زۀ دروېش نور د ښۀ او بد په توپير نۀ پوهېږم
چي يار يې ښۀ بولي بس زۀ هم هغه شے ښۀ بولم

*۱۳ ستمبر ۲۰۰۸ع*

○

تهٔ که پټ یې له دنیا، و ماته ښکارې
د هر هر اغزي تر شا و ماته ښکارې

تهٔ چې زړهٔ د کاییناتو یې اے مځکې!
په دې وخت کې په درزا و ماته ښکارې

دید د سترګو مې ستا مینې ځومره تېز کړ
د دېوال په هغه خوا و ماته ښکارې

تل دې وینم چې د بل پر خنګ روان یې
مګر تهٔ بیا هم زما و ماته ښکارې

پړے هم و تاته مار شي او ټک درکړي
یې درویش خو بې عصا و ماته ښکارې

۲۲ ستمبر ۲۰۰۸ع

www.sikaraam.com

څالاک دښمن يې ننداره له لري لري کوي
دُوی په خپل منځ کې يو پر بل باندي لښکري کوي

مهٔ وايه دا چې له الوته سره سم به ښکار شي
دا ځل مېږيان نهٔ دي د مار بچې وزري کوي

مولا دي خير کړي، چې لښکر مو روانيږي جنګ ته
تر تُوره مخکي هر سپايي طلب د زغري کوي

دا سپېرهٔ کاني، چې نهٔ خُلهٔ لري نهٔ ژبه لري
وايي دا هم له چا و چا سره خبري کوي

درويشه! قام دي د غفلت په داسي خوب ويدهٔ دے
نهٔ اذان اوري، نهٔ اثر پرې ستا سندري کوي

۲۳ ستمبر۲۰۰۸ع

○

خېر دے د امن ځای دنیا مۀ بوله
خپله سایه خو نو بلا مۀ بوله

لېونے سپے یې په کوګل کې غاپي
دا د رقیب د زړۀ درزا مۀ بوله

ما ویَل سر مي تر تا ځار دے اشنا!
دۀ ویَل ما بل وار اشنا مۀ بوله

پر زړۀ یې و ویشتم او وایي راته
د ویشتو دا خبر رښتیا مۀ بوله

نوم به دي نور ړدي پر غزل درویشه!
تۀ یې څراغ، تۀ یې رڼا مۀ بوله

۶ اکتوبر ۲۰۰۸ع

○

ستا د دیدن لار چې په کومو شپو کې بنده نهٔ وي
د ژوند تراخهٔ هم ماته کم له شکرقنده نهٔ وي

د خوب دپاره تر هغو پر کاڼي نهٔ ږدمه سر
چې مې ختلې هیله ستا له سپین مړونده نهٔ وي

ستا پر مېَن دا رنګه ورځ کله راغلې نهٔ ده
چې زیاته شوې به یې مینه په څو چنده نهٔ وي

ستا له غمزې پرته چې بل په هر تېغ و مري سړے
وي به شهید خو مرتبه به یې بلنده نهٔ وي

چې له درویشه! د هغهٔ شاعري اورم کله
داسې شیان هم پکې وي چې ډېر بېخونده نهٔ وي

۱۷ اکتوبر ۲۰۰۸ع

○

ژوند خو مقصد ته ویل کیږي، بې مقصده نهٔ شي
تهٔ پر خپل ځان باندي ولاړه یو ګنبده نهٔ شي

دا مناره وینم چي ډېره دي اوچته کړله
ګوره چي لاندي را غوزار له خپله قده نهٔ شي

ډېري ځهرې یې مسخ کړي دي په دې وطن کي
د دوی له لاسه پای ته هم بې خال و خده نهٔ شي

دا ویړ جهان به تر هغو ماته نیمګړے ښکاري
ګرانه وطنه! پکي تهٔ چي مخ په وده نهٔ شي

د بره تګ په دې سفر کي وزرونه سوځي
درویشه! پام کوه چي تېر له خپله حده نهٔ شي

۱۷ اکتوبر ۲۰۰۸ع

○

له يَوهٔ زړهٔ څخه بل زړهٔ اخلي اور
بل ډول دغه کاڼي نهٔ اخلي اور

د خپلو اوښکو خيال ساته انسانه
دا که ور ګډې شوې اوبهٔ اخلي اور

کوې زما د سوځولو اَمر
نهٔ دي زړهٔ سوځي، نهٔ دي خُلهٔ اخلي اور

تهٔ چې د چا ايمان ته اور اچوې
وايې چې دغه بوټي ښهٔ اخلي اور

د درويش کور سوځَوي، دا ګوري دُوی
چې څهٔ اور نهٔ اخلي او څهٔ اخلي اور

*۱۸ اکتوبر ۲۰۰۸ع*

www.sikaraam.com

○

دا مخامخ چي و دلبر ته ګورې
سترګي دي نۀ برېښي چي لمر ته ګورې؟

رقيب ته هم په هغه سترګه ګوره
په کومه سترګه چي بل شر ته ګورې

د کور په خوا چي د کتلو وخت وي
ساده لاليه! تۀ سنګر ته ګورې

چي تُوره و وينې د چا په لاس کي
رقيبه! تۀ زما و سر ته ګورې

ستا په خپل زړۀ کي درته پټ دے دښمن
درويشه! تۀ هسي بهر ته ګورې

*۹ اکتوبر ۲۰۰۸ع*

○

مهٔ منه دا چې په دیدن د یار توبه ماتېږي
کله اوبو ته په کتو د چا روژه ماتېږي

اوس هم وخت شته چې خپل سر و ژغورم خو نهٔ بې ژغورم
ځکه چې بیا مې له یو چا سره وعده ماتېږي

دا مې په زړهٔ کې ګوره څوک دے چې را ګرځوي ما
در روانېږم مګر بیا مې اراده ماتېږي

بې پروا یار زما د اوښکو هیڅ پروا نهٔ کوي
دا ملغلرې یې تر مخ یَوه یَوه ماتېږي

درویشه! زهٔ چې یار ته و وایمه زړهٔ دې راکړه
نو هغه وایي له تا دغه آیینه ماتېږي

۱۲ اکتوبر ۲۰۰۸ع

# نـــظـمـونـــه

# مزدوره

نهٔ ځان بولم ملایکه او نهٔ حوره
زهٔ بېوزله یم د بل کره مزدوره

هره شپه چې دلته تېره شي، سهار شي
د دې کور ویدهٔ وګړي را بېدار شي

بیا نو خلاص له هره غمه وي دُوی واړه
دغه کار یې وي تنها زما په غاړه

چې بستر د هر یوهٔ پر خپل ځای سم کړم
په خپل لاس سره یې ښهٔ پر خپل ځای سم کړم

داسې ګرځمه ورو ورو خونه په خونه
سمومه پکې ښکلې بسترونه

چي دا رنګ کړم بستر سم زهٔ د هر کشر
بیا نو لاړه شمه خوني ته د مشر

د دې کور د مشر ډېر ښکلے پالنګ دے
تر هر حد او حساب تېر ښکلے پالنګ دے

په لیدو د دې پالنګ شم زهٔ ناښاده
سمدلاسه دا خبره شي را یاده

چي وخت ځومره بدل کړے نن خپل رنګ دے
د لرګي نه چي یې جوړ دغه پالنګ دے

د هغهٔ ځنګل مالک زما نیکهٔ ؤ
لویه خدایه! هغه وخت به ځومره ښهٔ ؤ

---

نهٔ ځان بولم ملایکه او نهٔ حوره
زهٔ بېوزله یم د بل کره مزدوره

هره شپه چي دلته تېره شي، سهار شي
د دې کور ویدهٔ وګړي را بېدار شي

بیا نو خلاص له هره غمه وي دوی واړه
دغه کار یې وي تنها زما په غاړه

چې دا کور په سمه توګه را جارو کړم
هر دېوال یې د ښیښې په رنګه پُو کړم

په لږ وخت کې یې هر فرش وي ما مینځلے
نۀ وېښتۀ وي چرته پاته او نۀ خلے

صفا کړې مې وي خونه د هر کشر
بیا نو لاړه شمه خونې ته د مشر

په دې خونه کې یې ډېره ښه غالۍ ده
تر هر حد او حساب تېره ښه غالۍ ده

په لیدو د دې غالۍ شم زۀ ناښاده
سمدلاسه دا خبره شي را یاده

چې دا ښکلې غالۍ نۀ ده ډېره نوې
له وړۍ نه چې یې دا ده جوړه شوې

د هغې رمې مالک زما نیکۀ ؤ
لویه خدایه! هغه وخت به ښومره ښۀ ؤ

---

نۀ ځان بولم ملایکه او نۀ حوره
زۀ بېوزله په دې کور کې یم مزدوره

په دې ځای کې که څوک لُوی وي که کوشنے وي
په دې کور کې که څوک ښځه که سړے وي

زۀ یم اړه، احترام به یې کومه
بله لار نشته سلام به یې کومه

چې سهار د دې کور مشر ځي بهر ته
غاړه هسکه کړي، غرور یې راشي سر ته

هغه وخت نو زما حال بیا د کتو وي
داسې ښکاري لکه سا مې په ختو وي

ده لازمه چې بس غلې یم ولاړه
یو طرف ته سانیولې یم ولاړه

دغه هسي حال مې ډېره کړي ناښاده
سمدلاسه دا خبره شي را یاده

چې یو وخت د دغه مشر یوه نیا وه
مېرۀ نۀ وه، سکه مور يې د ابا وه

هغه هم نۀ ملایکه وه، نۀ حوره
وه په داسي یَوۀ لوی کور کې مزدوره

چې مالک يې زما خواري ستر نیکۀ ؤ
لویه خدایه! هغه وخت به څومره ښۀ ؤ

۹ مئ ۲۰۰۸ع

# ثړه[1]

دا خپل کور زهٔ ځکه کور بللای نهٔ شم
اور د خپل نَغري، اور بللای نهٔ شم

چې په کور کې همېشه وي ګڼ وګړي
د یوې کورنۍ وي پکې ډېر غړي

خو په دې مکان کې زهٔ یمه یواځې
دې سینه کې لکه زړهٔ یمه یواځې

چې سهار له خپله ځایه شم را پورته
ځیر ځیر و ګورمه کښته او بیا پورته

هیڅوک نهٔ وي چې ثهٔ و وایي و ماته
یم حېران چې سترګې واړومه چاته

---

[1] ثړه: په کور کې یواځې - جره- بې آل و عیاله - بې وادهٔ.

www.sikaraam.com

په روزګار پسې د چا دپاره لاړ شم
زهٔ په کار پسې د چا دپاره لاړ شم

مګر یمه چې دا رنګه په زاوال کې
راته وي داسي احساس هم په دا حال کې

لکه چرته چې څوک وي نزدې یا لرې
زما خوا ته یې وي مخه د خبرې

راته وایي ځه په کار پسې ولاړ شه
څهٔ ته ناست یې په روزګار پسې ولاړ شه

زهٔ یم ستا د سپېرهٔ کور زرغونه ونه
په خولو به مې د تن کوي پالنه

---

سهار زهٔ هم په روزګار پسې روان شم
لکه نور خلک په کار پسې روان شم

ټوله ورځ و باسم زیار په ډېره مینه
په خولو کړمه بدله د تن وینه

په کار راولم خپل مټ او خپل مړوند زهٔ
زور يې کړمه په ډېر ښهٔ ډول څرګند زهٔ

تر ماښامه وکړم ډېره زياته ګټه
تر هر چا وي زما برخه ډېره غټه

خو حېران يم چې دا ګټه يوسم چاته
کور هيڅوک سترګي په لاره نهٔ وي ماته

مګر يمه چې دا رنګه په زاوال کي
راته وي داسي احساس هم په دا حال کي

لکه چرته چې څوک وي نزدې يا لري
زما خواته يې وي مخه د خبري

راته وايي چې راځه را درومه کور ته
ګوره شا نهٔ کړې د خپل نَغري اور ته

درته ځان ښکارېږي داسي تنها څله
زهٔ دي ځان يم لېونيه!، زهٔ دي خپله

هره سترګه مې ستا لار ګوري په ښار ده
ستا د دوو لاسونو ګټه مې په کار ده

---

چې مابنام زهٔ له روزګاره ستړے راشم
په غبار سپېرهٔ له کاره ستړے راشم

د کور غولے مې په خاورو باندې خړ وي
په بېخونده نَغرې کې مې اور مړ وي

بنده نهٔ وي چې مې مخته را ولاړ شي
په ليدو يې غم زما د زړګي لاړ شي

چې پخپله څهٔ پاخهٔ کړم دې ته اړ يم
چې پاخهٔ يې کړم بيا ناست ورته يکړ يم

چې شي دا مرحله هم را باندې تېره
نو له ما سره پېدا شي دغه وېره

چې بستر ته به اوس بيا ور ننوزم
لکه قبر ته، تنها ور ننوزم

مګر یمه چې دا رنګه په زاوال کې
راته وي داسې احساس هم په دا حال کې

لکه چرته چې څوک وي نزدې یا لرې
زما خوا ته یې وي مخه د خبرې

راته وایي دا په کوم ویر مبتلا یې
چې زۀ یمه نو تۀ څله وار خطا یې

درځه پرېوزه چې تلتک دربندي سم کړم
ستا له زړۀ څخه به لرې هر یو غم کړم

۱۰ مئی ۲۰۰۸ع

# بلنه

ستا آواز راتهٔ چي ما لره را درومه
په واړهٔ قدم مي خوا لره را درومه

خو پر ما باندي موسم د ماشومتوب ؤ
ماشومتوب څهٔ ؤ، د ویښي عجب خوب ؤ

نهٔ مي تا ته، نهٔ مي ستا آواز ته پام ؤ
شوق د لوبو مي ملګرے په هر ګام ؤ

وم به زهٔ په غورځو پرځو تل تر تله
دې خبري ته مي نهٔ کتل هیڅکله

چي دا څوک دا هسي ما و ځان ته بولي
دا آواز مي اوس و کوم جهان ته بولي

که ورځم د څۀ دپاره به ورځم زۀ
پر کوم رَو، پر کومه لاره به ورځم زۀ

دروازه یې د محل ده و کوم لور ته
ننوزم به یې څرنګه و کور ته

خو سره له دې چې پوهه وربانديي نۀ وم
در روان ستا و طرف ته بیا هم زۀ وم

ناخبر د ماشومتوب تر حد در تېر شوم
زۀ د ويښې د دې خوب تر حد در تېر شوم

د ځوانۍ پر مځکه و لګاوۀ پل ما
د ځلمې په توګه پېل کړ خپل مزل ما

---

ستا آواز راتۀ چې ما لره را درومه
په ډاډه زړګي مې خوا لره را درومه

مګر زۀ وم د ځوانۍ په تازه باغ کې
خوشبويي مې د دا باغ وه په دماغ کې

په خوندونو د جهان مي خُلهٔ خوږه وه
دا دنیا هغه وخت داسي ښایسته وه

چي مي خور د لېمو مخته نُور او رنګ ؤ
غوږ مي خوا ته د نغمو د شرنګاشرنګ ؤ

پام مي نهٔ ؤ چي ما څوک و ځان ته بولي
کوم آواز دے او ما کوم جهان ته بولي

که ورځم نو څهٔ دپاره به ورځم زهٔ
پر کوم رَو، پر کومه لاره به ورځم زهٔ

دروازه یې د محل ده و کوم لور ته
ننوزم به یې څرنګه و کور ته

خو سره له دې چي پوهٔ ورباندي نهٔ وم
در روان ستا و طرف ته بیا هم زهٔ وم

د ځوانۍ تر حد در تېر شوم ستا و خوا ته
تر پخوا زیات در نزدې شومه و تا ته

د زړتیا پر مځکه و لګاوۀ پل ما
د بوډا په توګه پېل کړ خپل مزل ما

---

ستا آواز راځي چي ما لره را درومه
په ډاډه زړګي مي خوا لره را درومه

ما نیولے اوس و دې آواز ته غوږ دے
را نه لري د اومې دنیاګۍ زوږ دے

یم ولاړ د دې زړتیا پر سپېره مځکه
رنګ و شرنګ دے دلته ورک، خوشبویي ورکه

دے هر شي په بله خوا مخ اړولے
ښۀ په ټینګه یې له ما مخ اړولے

یم اوزګار چي اوس نو ستا خبره واورم
یم تیار چي اوس نو ستا خبره واورم

او خبره دي هم ده راته معلومه
راته وایې چي بس ما لره را درومه

هسي وم خو در روان زۀ له پخوا نه
پېښه دا وه چې خبر نۀ وم له ځانه

نن خبر يم چې روان يمه و چا ته
ډېر مزل مې دے درکړے ستا و خوا ته

رسېدلے يمه پای ته اوس د لاري
دروازه ستا د محل و ماته ښکاري

ګور يا قبر يا لحد يې خلک بولي
د اومې دنيا سرحد يې خلک بولي

۱۴ مئی ۲۰۰۸ ع

# د سترګو رنځ

زهٔ طبيب ومه او کوت به مي هر کلے
يَوه ورځ وم ستاسي خوا ته درَغلے

په کتلو وم لګيا د رنځورانو
ما کول دارو دوا د رنځورانو

له سرېو پس شو وار د ماشومانو
چي تمام شو کله کار د ماشومانو

نو د ښځو و کتلو ته اوزګار شوم
و راتـګ ته د هغو سترګي په لار شوم

په هغو کي راغلې تهٔ تر نورو وړاندي
تر پاړسوب دي وې اوښکلني سترګي لاندي

ښکارېده چې بيماري دي ده د سترګو
نوره جوړه يې خواري دي ده د سترګو

ګڼه ګونه چې د ښځو شوه پای زياته
په خپل وار به تهٔ اول راتلې و ماته

مګر تهٔ ماته اول را مخته نهٔ شوې
ؤ په دې کي چي هر چل را مخته نهٔ شوې

زما خيال ؤ چي تهٔ ډېره يې زړسوانده
تر خپل ځان دي ده په بل زياته کهانده

خپل وار بل ته ورکوې چي درد يې کم شي
تر ځان بل ګڼې حقدار چي کار يې سم شي

---

زهٔ طبيب ومه او کوت به مي هر کلے
دغه ورځ وم ستاسي خواته درَغلے

وې راغلي رنځوراني وروسته وړاندي
ما کته هره يَوه پر خپل وار باندي

ډېر وخت پس مي پام در واوښت ستا و خواته
چي په ښځو کي وې ناسته چرته شاته

ما ویَل چي تهٔ خو مخکي وې راغلې
ولي ناسته یې دا هسي تر شا غلې

را ولاړه شوې زما په دې وېنا تهٔ
په نیولي قدم راغلې پای تر ما تهٔ

ما چي و کتې ستا سترګي تکي سرې وې
تېري شوي پرې د خُوږو ډېري شپې وې

چي دارو د رنځ مي درکړل کله تا ته
نو ویَل مي چي اوس تهٔ د خپل کور خوا ته

ځه پر هغه لاره باندي چي وي لنډه
دارو سترګو ته ور واچوه بې ځنډه

مګر تهٔ کښېناستې بیا د ښځو شا ته
ما ویَل ځوک خوندکۍ به دي وي پاته

چې هغه و ګورم زۀ نو بیا به ځې تۀ
تر هغو پورې به ناسته یې دلې تۀ

---

زۀ طبیب ومه او کوټ به مې هر کلے
دغه ورځ وم ستاسې خوا ته درَغلے

رنځورانې مې کتلې ښۀ تر ډېره
تۀ مې وې په دغه وخت کې بېخې هېره

ګڼه ګوڼه شوه د ښځو ورو ورو کمه
لاس مې ونیو چې لږ سا کړم ورته سمه

دغه وخت مې پام در واوښت بیا و تا ته
دا مې ولیدل چې ګورې ته و ما ته

له کتلو دي ښرګنده وه خبره
زۀ شوم پوهـ چې چرته بنده وه خبره

چې راتلې نو بیمارې دې وه د سترګو
نوره جوړه وې خوارې دې وه د سترګو

مګر دلته دي شوې سترګي خپلي هېري
شولې څرېکي دي د زړهٔ و میان ته تېري

زهٔ شوم پوه چي د دې څرېکو سبب زهٔ یم
زهٔ شوم پوه چي ستا د ناستي مطلب زهٔ یم

تهٔ یې تږې او زهٔ داسي یو سراب یم
چي دا وخت ستا په ګُمان روان دریاب یم

زړهٔ دي نهٔ غواړي چي لاړه شې ما پرېږدې
تهٔ له دې ځایه ولاړه شې ما پرېږدې

۱۶ مئ ۲۰۰۸ع

# وَسوسې

پرون ما لیدلې پېغله وه که حوره
غټې سترګې چې یې ډکې وې له نوره

بې اختیاره یې نن راغلم د کور خوا ته
ورته ګرځم کله مخته کله شا ته

زړهٔ مې وایي که هغه د بام له سره
دلته و ویني ما داسې در په دره

په خبره ګوندې پوهه شي دا پڅپله
چې زهٔ ګرځم په دې ځای کې داسې څله

زړهٔ یې و تخنېږي، شي لږ ناقراره
لاندې راشي مخ ته و نیسي هینداره

www.sikaraam.com

په نریو ګوتو سم وریښمین اوربل کړي
را اوچت د دروازې و خوا ته پل کړي

بیا را خلاصه ډېره ورو ورو دروازه شي
د سپوږمۍ رنګه یې مخ ترې را ښکاره شي

په لټون یې ترهېدلې شان نظر شي
چې کوم وخت زما پر سترګو برابر شي

څۀ مسکا یې پر سرو شونډو را خوره شي
بېرته ننوزي او بنده دروازه شي

خو چې ځي، زما زړګې ورسره واخلي
ما راوړے دا غمَے ورسره واخلي

---

پرون ما لیدلې پېغله وه که حوره
غټې سترګې چې یې ډکې وې له نوره

بې اختیاره یې نن راغلم د کور خوا ته
ورته ګرځم کله مخته کله شا ته

په دې هيله چي زړګے به له ما واخلي
ما راوړے دا غمَے به له ما واخلي

مګر وېره شته چي دا رنګه ونۀ شي
چي زۀ نۀ غواړمه هغسي کار و شي

ناخبره وي هغه له دې پخپله
چي زۀ ګرځم په دې ځاى کي داسي ځله

په خپل کار وي بوخته دغه ملغلره
په دا وخت کي شي ور ياده څۀ خبره

په دې نيت له خپله کوره را بهر شي
چي د خپل يو ګاونډي کره لږ ور شي

زۀ ولاړ يمه او دا شي تر ما تېره
بې خبره، بې پروا شي تر ما تېره

دا ونۀ ګوري چي دغه اوس څۀ شے دے
سپېرۀ بوټے دے که کاڼے که سړے دے

په دا توګه مي زړګَے کړي تر پښو لاندي
ما راوړے دا غمَے کړي تر پښو لاندي

---

پرون ما ليدلې پېغله وه که حوره
غټې سترګي چي يې ډکي وې له نوره

بې اختياره يې نن راغلم د کور خوا ته
يم ولاړ يې کله مخته کله شا ته

وېره شته چي مي زړګَے کړي تر پښو لاندي
ما راوړے دا غمَے کړي تر پښو لاندي

او کېدای شي چي تش دا رنګه و نهٔ شي
تر دې پېښي لا هم لويه پېښه و شي

چي خبره په دې راز شي هغه کله
چي زهٔ ګرځم په دې ځای کي داسي ځله

نو له ډېره قهره اور واخلي لمبه شي
په رښتيا يوه پټمنه پښتنه شي

چي را وزي نو په لاس کي يې توپک وي
څو ګولۍ يې ور وستلې وي او ډک وي

سمدلاسه دا توپک و ما ته سم کړي
د ګوليو مخ چټک و ما ته سم کړي

پر ماشه باندي پرته ګوته را کش کړي
قيامت جوړ شي چي يَوه ګوته را کش کړه

په سينه کي مي زړګَے کاندي په نخښه
ما راوړے دا غمَے کاندي په نخښه

۸ مئی ۲۰۰۸ء

# د لاس نخبنه

د اوبو والۀ چي ستاسي د کلا نه
را وتله او په وړاندي وه روانه

زرغونې وې په واښو د هغې غاړي
اچولي به وې ما پکي پښې دواړي

دغه وخت به مي ټول خیال ؤ ستا و لور ته
چي ختلې به یې تۀ اوس برج ته پورته

له هغۀ ځایه به زۀ درته ښکارېږم
ډېر به سم او ډېر به ښۀ درته ښکارېږم

په سبب زما د ناستي به هم پوه یې
په مطلب زما د ناستي به هم پوه یې

www.sikaraam.com

ستا به هم وي په سينه کي زړهٔ د غوښي
ستا به هم وي د يارۍ خبري خوښي

د دا کار دپاره ما ښايي قبول کړي
يوه ورځ مي په رښتيا ښايي قبول کړي

په دې توګه چي دي زړهٔ دې ته تيار شي
چي يو تار د يارانې مو تر منځ جار شي

نو دي ډکي په رڼا شي سترګي دواړي
ورو ورو راشې د والې تر يوې غاړي

په اوبو کي د خپل لاس نخښه را پرېږدې
په والهٔ کي ماته خاص نخښه را پرېږدې

---

د اوبو والهٔ چي ستاسي د کلا نه
را وتله او په وړاندي وه روانه

زرغونې وې په واښو د هغې غاړي
اچولي وې ما بيا پکي پښې دواړي

په دې هیله چي ځۀ خاص نخښه به راوړي
ستا والۀ ده، ستا د لاس نخښه به راوړي

دا خبره چي مي ګرځېده په خیال کي
یو عجبه حال مي ولید په دې حال کي

اوبو راوړ یو انار داسي له پاسه
لکه وي چي را وتلے ستا له لاسه

ما ویَل چي دا انار یو انار نۀ دے
دا و ماته را لېږلے تا خپل زړۀ دے

دا په دا چي انار هم لکه یو زړۀ وي
له دننه دواړه سرۀ وي او تک سرۀ وي

مګر بېرته مي ویَل داسي به نۀ وي
چي انار تا را لېږلے لکه زړۀ وي

په دې نیت چي لېونیه دا در واخه
دا به هسي را لوېدلے وي له ښاخه

www.sikaraam.com

د والې دغو صفا اوبو ته لاندې
تهٔ به هيڅ خبره نه يې په دې باندې

---

د اوبو والهٔ چې ستاسې د کلا نه
را وتله او په وړاندې وه روانه

زرغونې وې په واښو د هغې غاړې
اچولې وې ما بيا پکې پښې دواړې

که هر څومره لرې ناست وم ستا له څنګه
خو په زړهٔ کې مې ويل درته دا رنګه

چې که کړے تا پخپله هغه کار ؤ
را لېږلے دې پرون ماله انار ؤ

نو به نن هم يو څهٔ خاص نخښه را پرېږدې
په والهٔ کې به د لاس نخښه را پرېږدې

په دا وخت کې په اوبو کې يو ګل راغے
ورپسې په ډېرو پاڼو کې بل راغے

ما ويَل د يارانې تار دا دے جار شو
په دې حال کې مې زړهٔ دومره ناقرار شو

چې دستې له خپله ځایه شوم در پورته
تر سورې مې د کلا کتل ستا کور ته

ولید ما بدبخت مالې په سترګو خپلو
ؤ لګیا د ګل د بوټو په تراشلو

دغه دوه ګُله هم دهٔ وو را پرې کړې
چې اوبو وو د والې تر ما راوړې

*۲۱ مئی ۲۰۰۸ء*

# خالي تخت

شپې د امن وې تازه د دې دنیا وه
ټوله ورځ به د خپل کور په کار لګیا وه

ماځیګر چې به تر غرونو لمر نهام شو
په تیارهٔ کې به یې پټ غولے او بام شو

کړه به دې پکې خاورینه ډیوه بله
په رڼا به شوه تیارهٔ د کور بدله

ورسره به یې د زړهٔ حال هم بدل شو
یو څراغ د انتظار به پکې بل شو

د زړهٔ خونه به یې ډکه په رڼا شوه
ناقراره به په دغه رڼا دا شوه

د چا لاري ته به ټول نظر نظر شوه
په وتو ننوتو به داسي سر شوه

لکه تخت چي تيار شوے په ښهٔ شان وي
پرې باچا و کښېناستو ته را روان وي

دا باچا به نو د دې غريب مېږهٔ ؤ
د دې زړهٔ ؤ، نور جهان ته که هر څهٔ ؤ

ساعت پس به هغه هم راغے له کاره
مخ سپېرهٔ او جامې ډکي له غباره

خو په جېب کي به يې پروت د سبا خرڅ ؤ
په مېړانه به ګټلے دهٔ دا خرڅ ؤ

---

څه وخت پس بيا چي وطن و بلل ننګ ته
ننګياليو کړله مخه هغه جنګ ته

چي ترې بېرته بيا د دې سړَے را نغے
مائيکر بيا هم راتهٔ خو دَے را نغے

اوس به هم له دې تر غرونو لمر نهام شو
په تیارهٔ کې به يې پټ غولے او بام شو

کړه به دې پکې خاورينه ډېوه بله
په رڼا به شوه تيارهٔ د کور بدله

ورسره به يې د زړهٔ غولے رنګين شو
داسې ګل د انتظار به پکې شين شو

چې بېتابه به يې دا ژر په اثر شوه
په وتو ننوتو به داسې سر شوه

لکه تخت چې تيار شوے په ښهٔ شان وي
پرې باچا و کښېناستو ته را روان وي

دا باچا به نو د دې يکې يو زُوی ؤ
چې ځوانۍ ته رسېدلے ؤ اوس لُوی ؤ

ساعت پس به هغه هم راغے له کاره
مخ سپېرهٔ او جامې ډکې له غباره

خو په جيب کي به يې پروت د سبا خرڅ ؤ
په ميړانه به ګټلے دۀ دا خرڅ ؤ

---

بيا چې خلک دې جنګ ډوب کړل تول په غم کې
د دې يکي يو زُوى هم والوت په بم کې

بېرته کور ته کله دا ځلمَے را نغے
ماځيګر بيا هم راتۀ خو دَے را نغے

اوس به هم له دې تر غرونو لمر نهام شو
په تيارۀ کې به يې پټ غولے او بام شو

کړه به دې پکي خاورينه ډيوه بله
په رڼا به شوه تيارۀ د کور بدله

ورسره به يې په زړۀ کې پيدا سوَے شو
پکي ښخ د انتظار به يو اغزَے شو

شوه په درد به يې دا رنګ دا ناقراره
چې وته ننوته به داسې خواره

**لکه تخت چې وي خالي او باچا نهٔ وي**
**تاج وي پروت مګر دا تاج د هيچا نهٔ وي**

**دا وي سخته پرېشانه، سرګردانه**
**دې خبرې وته پاته وي حېرانه**

**چې پوره کړي خپل مطلب له کومه ځايه**
**مرسته و غواړي له خلکو، که له خدايه**

**باچهي و ګوري ثنګه له زواله**
**د واک واګې يې په لاس ورکاندي چاله**

*۲۴ مئی ۲۰۰۸ع*

# هجرت

چې له خپله ښاره کړے موږ هجرت دے
دا هجرت خو نو د هغه چا سنت دے

چې دنیا ته یې ښووله سمه لاره
وه وېنا د خُلې یې خاص لکه هینداره

هر سړي پکې لیده بدرنګي خپله
د بدرنګو خلکو دا خوښېده کله

نو یې و یوست دے له ښار څخه په زوره
دې کار ټینګه اراده کړه د دهٔ نوره

و زغملو ته د هر عذاب تیار شو
بوخت د ښار د بیا نیولو په سخت کار شو

پرېږ بې شمېره خوارۍ راغلې په دا لار کې
پای یې داسې برے و موند په دې کار کې

چې مکه د تل دپاره بیا د دۀ شوه
د دښمن بیا دغه ښار ته لار و نۀ شوه

مګر موږ چې را روان د دۀ پر لار شو
د خپل ښار و بیا نیولو ته تیار شو

نو د دۀ رنګه موږ هم پای بریالي شو
له برې پس مګر بیا پېښ پر خواري شو

چې ښار و نیسو نو بیا راځخه لاړ شي
چې کار جوړ کړو هغه بېرته وران ویجاړ شي

---

چې له خپله ښاره کړے موږ هجرت دے
دا هجرت خو نو د هغه چا سنت دے

چې یې ډېرې خوارۍ یوړې په دې لار کې
پای یې و موند لوی برے په دغه کار کې

مګر کله چي ور ننووت خپل ښار ته
نو هیڅوک یې هم و نهٔ خېژاوهٔ دار ته

وېرېدلي هر دښمن ته یې ډاډ ورکړ
هر مات شوے مخالف خپل یې خبر کړ

چي په درې ځایه کي هر چا ته امان دے
یو کور ستاسي د سردار ابوسفیان دے

بل د هر وګړي خپل کور او خپل سرای دے
او دریم پاکه کعبه چي کور د خدای دے

څوک چي ننوزي په دغو کي یَوهٔ ته
هیڅ تاوان به بیا څوک نهٔ رسوي دهٔ ته

شول غوږ غوږ کاڼي او بوټي دې اعلان ته
سلامي شول ټول وګړي دې احسان ته

په درزا چي ؤ کوم زړهٔ هغه ډاډه شو
چي خازه ؤ کوم یو مخ هغه تازه شو

چې يې دے شاړۀ هغوی اوس پرې را ټول شول
په مکه کې سره دوی کور او کهول شول

---

چې له خپله ښاره کړے موږ هجرت دے
دا هجرت خو نو د هغه چا سنت دے

چې ښووله يې هر چا ته سمه لاره
ايستل شوے ؤ په دغه تور له ښاره

خو چې راغے له بري سره بيا کور ته
نو هيڅوک يې هم و دار ته نۀ کړ پورته

دغه کار يې موږ منو چې دا ډېر ښۀ دے
خو پخپله مو عمل پرې کړے نۀ دے

له بري سره چې ننوزو خپل ښار ته
نو اول ابوسفيان خېژوو دار ته

و ملګرو ته يې خپل که د خدای کور وي
يو هم ځای د امان نه وي، ورته اور وي

هغوی ځان باسي یوې یا بلې خوا ته
ورې پناه چرته بل دا رنګه یو چا ته

چې دوی ببرته ښار نیولو ته تیار کړي
چې په دُوی ابوسفیان زموږ په دار کړي

خدای خبر چې لا به څو ابوسفیانه
ورو په خپلو کې موږ دا رنګه له میانه

او ملګري به یې بل جنګ ته اړباسو
خپل وګړي ببرته خپل جنګ ته اړباسو

۲۷ مئ ۲۰۰۸ع

# د ژړا ځای

زهٔ وم پېغله، تاسي چيغه کړه چي جنګ دے
پر وطن مو دښمن راغلے کار د ننګ دے

زما پلار درسره لاړ په دغه وخت کي
شو نصيب زموږ هم وياړ په دغه وخت کي

ننګياليو پر دښمن وکړل وارونه
جنګياليو کول داسي ګزارونه

چي تکان ترې د دښمن لوی لښکر و خوړ
زما پلار چي په دا جنګ کي خپل سر و خوړ

تاسي و ويَل و ما ته چي مهٔ ژاړه
تېنګه کړې ده اوس موږ د دښمن غاړه

وخت نږدې دے چې هغه به بربادېږي
ستا وطن به ستا دپاره آزادېږي

بې اسرې ګوره و نۀ وايې خپل ځان ته
شهيد پلار چې يې ورکړې و کوم ځوان ته

د وطن د ښو ځوانانو هغه سر دے
سور ګلاب دے، د سهار په پرخه تر دے

په لږ وخت کې به وادۀ شې و هغۀ ته
ور نږدې به لکه زړۀ شې و هغۀ ته

نو په دې خوږه وېنا شوم زۀ ډاډمنه
و مې نۀ ژړل، رښتيا شوم زۀ ډاډمنه

---

زۀ وادۀ شوم تاسې بيا راغلاست چې جنګ دے
زوړ دښمن خو مو ايستلے ښۀ په ننګ دے

خو چې څوک يې په ايستو کې زموږ مل ؤ
د رښتيا ملګرے نۀ ؤ، هغه غل ؤ

چي ریښې يې د غلیم راسره پرې کړې
نو يې ټینګي په دې ځای کي خپلي پښې کړې

زموږ جنګ شو له هغهٔ سره بیا نوے
آزاد نهٔ یو تش دښمن دے بدل شوے

اوس له تاسي هم په دې کي مرسته غواړو
نو په دا زما مېړهٔ درسره لاړو

چي هغه شو قرباني نو تاسي واړه
راغلاست ماته چي مهٔ ویر کوه مهٔ ژاړه

وخت نزدې دے چي دښمن به بربادېږي
ستا وطن به ستا دپاره آزادېږي

ستا سرے که تللے خوا ته د جنت دے
په وجود کي ستا يې پروت یو امانت دے

هیله دا کوو له خدایه چي دا زُوی شي
ستا د کور روښان څراغ به وي چي لُوی شي

نو په دې خوږه وینا شومه ډاډمنه
و مې نه ژړل، زهٔ بیا شومه ډاډمنه

---

امانت زما د ګران شهید چې زُوی شو
دغه زُوی په تیرېدو د عمر لُوی شو

تاسې بیا راغلاست چې ختم لا جنګ نهٔ دے
رسېدلے پای ته کار لا د ننګ نهٔ دے

یو ځل بیا زموږ دښمن دے بدل شوے
یو ځل بیا زموږ په کور کې شو جنګ نوے

اوس له تاسو هم په دې کې مرسته غواړو
نو زما ځلمے زوی هم درسره لاړو

د هغهٔ والوت له تنه سره سر هم
ماته ځکه چا را نهٔ وړ دا خبر هم

چې له ما بل جنګیالے نهٔ ورتهٔ لاس ته
د زُوی کونډه مې د پلار پر کور ده ناسته

اوس به زهٔ او هغه دواړي سره ژاړو
په دې نهٔ چي کور سپېرهٔ شو زموږ دواړو

ژړا دا ده چي که دلته په دې رنګه
بدلَوو دښمن، موږ پس له هره جنګه

نو خدای مهٔ کړه چي یو داسي بدحال خور شي
چي هر کور په شان زما د ویجاړ کور شي

مرګ یې و ګنډي د هر نرګاړي شونډي
شي له موږه سره پاته کونډي کونډي

۳۱ مئی ۲۰۰۸ع

# سندري

{د داغستاني شاعر رسول حمزه د یوهٔ نظم عکس}

مسافره چي تیار شې تهٔ سفر ته
دغه وخت به دي دا خیال راځي و سر ته

چي په مخه به خوارۍ درځي په لار کي
هم ستړیا شته او هم لوږه په دې کار کي

نو به اړ یې چي څهٔ شَے درسره واخلې
هم ډوډۍ او هم به مَے درسره واخلې

خو چي کله شا کوې خپل کلي کور ته
دغه وخت که دي وي مخه زموږ لور ته

پر طرف زموږ د سیمي را روان یې
نو له دغسي خوارۍ بیا په امان یې

چي له ځانه سره شَے هم را وا نخلې
ډوډۍ مۀ را اخله، مَے هم را وا نخلې

موږ دا هر څۀ ورکوو خپل مېلمانۀ ته
هرکلے د زړۀ له کومي وايو دۀ ته

وي مېرمني مو د اور و څنګ ته ناستي
پخوي ورله ډوډۍ او پاسته پاستي

تر هر څۀ رالره دا خبره ښه وي
چي پر خپل غولي مو ناست راته مېلمه وي

د خوړلو هر يو شَے يې وي و مخته
په پيالو کي پراتۀ مَے يې وي و مخته

---

مسافره چي تيار شې تۀ سفر ته
دغه وخت به دي دا خيال راځي و سر ته

چي په لاره کي دي ګام پر ګام خطر سته
هم دي مال تلای شي او هم وېره د سر شته

نو به اړ يې چې خنجر درسره واخلې
يا تېره توره او سپر درسره واخلې

خو چې کله شا کوې خپل کلي کور ته
دغه وخت که دي وي مخه زموږ لور ته

پر طرف زموږ د سيمي را روان يې
نو له دا رنګه خطره په امان يې

چې له ځانه سره شَے هم را وا نۀ خلې
خنجر څۀ دے، تش لرګے هم را وا نۀ خلې

دے هر څوک خبر د دې سيمي له خويه
غرونه هم د مېلمانۀ دي ساتندويه

غل، غدوی هغۀ ته لار نيولای نۀ شي
ورته مخه د چا پلار نيولای نۀ شي

او که ګوري په کاږه نظر څوک دۀ ته
د زمرو د خاوري دغه مېلمانۀ ته

نو به سم د کوربنو ورته خنجر وي
له بدنه به يې بېل هغه دم سر وي

---

مسافره چې تيار شې تهٔ سفر ته
راشي خيال د سپېرې لارې دې و سر ته

نو به اخلې بيا له ځان سره سندري
چې په خوند کې وې خورې لکه شکري

پرې به غم غلطوې په خپل مزلهٔ کې
بېخوندي به دې ځای نهٔ نيسي په زړهٔ کې

خو چې کله شا کوې خپل کلي کور ته
دغه وخت که دې وي مخه زموږ لور ته

پر طرف زموږ د سيمې را روان يې
نو له داسې بېخوندۍ به په امان يې

يې خبر به تهٔ هم ښهٔ له دې خبري
چې لرو موږ دلته ډېري ښې سندري

چي يې اوري نو غمونه يې ټول هېر وي
ډېر ښۀ سات د مېلمانۀ راسره تېر وي

خو بيا هم چي تۀ زموږ په خوا را واوړې
که سندري هم له ځانه سره راوړې

نو موږ نۀ وايو چي دې ته اړتيا نشته
ولي و وايو چي دې ته اړتيا نشته

څۀ تاوان لري چي ډېري شي سندري
لا به ښه وي چي پرېوانه وي شکري

---

# د فطرت مرسته

زۀ خبر شوم چې دے ژر مېلمه راتلونکے
زما کور ته هغه ستر مېلمه راتلونکے

نو لګيا شوم چې جونګړه کړمه سمه
په نن شپه کې يې تيارۀ و ساتم کمه

وو په کور کې يو څۀ تېل راسره پاته
په دې وخت کې په ښه راغلل هغه ماته

دا مې واچول و خپل زاړۀ څراغ ته
په رڼا کې د څراغ راغے دماغ ته

دغه خيال چې دا څراغ خو بېخي زوړ دے
له زړتيا پرته دا هم ده چې ډېر ووړ دے

ده رڼا یې ډېره تته، ډېره کمه
بله دا چې دا جونګړه نهٔ ده سمه

ورته ګوره څومره تنګه او وړه ده
تر نیکهٔ زما، په عمر دا زړه ده

چې وخت راشي نو په دې به شرمنده یم
چې د څنګه مېلمانهٔ چې زهٔ کوربه یم

د هغهٔ د شان وړ ځای راسره نشته
داسي لُوی او ښکلے سرای راسره نشته

چې په یخو او خوږو وږمو ودان وي
په رڼا د یَوهٔ لوی څراغ روښان وي

---

ومه ناست د هغه تت څراغ رڼا ته
چې تر اوسه لا څهٔ تېل وو پکي پاته

مګر دغه تېل زما تر اړتیا کم وو
په نن شپه کي مي رښتیا تر اړتیا کم وو

ما ویَل که مېلمه ژر را نغے کور ته
تينـګ به نهٔ شي دغه تېل د څراغ اور ته

ژر به و سوځي او ډېر ژر به تمام شي
په تيارهٔ به پټ زما غولے او بام شي

او زما دا اندېښنه بېځايه نهٔ وه
په رښتيا دا اندېښنه بېځايه نهٔ وه

همدغسي يو حالت راغے را باندي
تېل تمام شول د هغه تر راتـګ وړاندي

زما زړهٔ په دغه حال کي په درزا شو
درزا څهٔ وه، هغه دا رنګه ګويا شو

چي جونګړه هسي هم وه ډېره تنګه
د دې لُوی مېلمانهٔ وړ نه وه هيڅ رنګه

اوس بيا ګوره چي څراغ هم پکي مړ شو
ښه شوه توره چي څراغ هم پکي مړ شو

نو مېلمه کښېنوم خدايه زۀ اوس چرته
هغه بوزم له دې ځايه زۀ اوس چرته

---

زما زړۀ چې ويل کوم څۀ په درزا کې
د "فطرت" به خيال بند شوے وي په دا کې

په خبره به يې سم وي پوهېدلے
چې ډېر ښۀ زما په غم وي پوهېدلے

نو به زړۀ وي د هغۀ را باندې سوے
په خپل کار پسې به ژر وي روان شوے

ځنډېدلے به وي خود چرته پر لاره
غافل شوے مګر نۀ ؤ دے له کاره

چې را ستون شو کله بېرته و دې لور ته
نو رڼا ښکارېده کښته او هم پورته

په مزه مزه يې لمر ؤ را اخستے
دا ځراغ هغۀ پر سر ؤ را اخستے

چي بيا پورته راته بل پر شنهٔ آسمان ؤ
زما کور غوندي د خدای دا ټول جهان ؤ

دغه وخت نو زما ستر مېلمه هم راغے
چي يې وم په انتظار هغه هم راغے

زهٔ خوشحاله وم او هسکه مي وه غاړه
چي زما کور او زما څراغ اوس دواړه

د دا هسي مېلمانهٔ دپاره سم وو
په رښتيا هم، نهٔ څهٔ زيات او نهٔ څهٔ کم وو

*۱ جون ۲۰۰۸ع*

www.sikaraam.com

# د اوسپني کلا

چې وتمه زۀ په دوه لاسه دنیا ته
هغه وخت دا ښوول شوي وو، و ماته

چې هر ځای ښۀ په لُوی زړۀ کوه خبره
و هیچا ته کمه مۀ کوه خبره

مړه خبره علامه د بېوسۍ ده
ډېره ستره علامه د بېوسۍ ده

او بېوسو ته تل نۀ سړے، سړے شي
چې وېرېږي له سایې ، دوی ته زمرے شي

ما هم نۀ غوښتل چې شم داسي بېوسه
چې چیچي به راته غاښ کس و ناکسه

نو دنيا ته سوم ور ګډ په هسکه غاړه
وه خبره مي هم لوَړه او هم لواړه

څوک مي نه ليد چي له ما سره به سم ؤ
هر سړے زما په خيال تر ما ډېر کم ؤ

خو چي کړه به ورته ما ترخه خبره
شوه بلا به راته دا ترخه خبره

راته و به شوې شل دا رنګه خبري
چي پر زړهٔ به لګېدې لکه ډبري

چي را ستون به شوم نو زړهٔ به مي تک شين ؤ
څوک مي نهٔ ليد چي تر ما به ډېر غمګين ؤ

---

چي وتمه په شنهٔ زړهٔ زهٔ وَ دنيا ته
هغه وخت دا ښوول شوي وو، و ماته

چي که ژوند تېرول غواړې ښهٔ په نره
اوس څوک نهٔ شې وېرولاى په خبره

د خبرو زمانه ده زياتي تېره
که وتې نو چي ډنډه دي نهٔ کړې هېره

بې ډنډې درته ګرانېږي د ژوند چاره
هر سړے به غاښ چيچي درته پر لاره

ما هم نهٔ غوښتل چي نور مي څوک زهير کړي
هيڅ بې هيڅه مي اخته د ځان په وير کړي

چي وتمه نو ډنډه هم راسره وه
بې اسرې نهٔ وم اسره هم راسره وه

خو چي وکتل دنيا د ډنډې لور ته
شل ډنډې شوې خوا و شا راته را پورته

چي ولاړ وو څوک د دغو ډنډو شاته
زهٔ هغو ته مخامخ وم هغوی ماته

ما به سر د چا مات کړے يا به نهٔ وي
چا به زخم له ما وړے يا به نهٔ وي

خو زما ککرۍ شل ځایه شوه ماته
نښانونه د ډنډو شول باندي پاته

---

چي په ماته ککرۍ وتم دنیا ته
هغه وخت دا ښوول شوي وو، و ماته

چي یَوه خبره نهٔ کړې باید هېره
نن سبا ده د ډنډې زمانه تېره

کار به اخلې اوس د تور توپک له زوره
نو را و یوست ما توپک له خپله کوره

مګر تا پر دروازه باندي له مانه
توپک واخست چي دا څهٔ کوې نادانه

په عِوض کي د یوې ترخې خبري
درته و شوې تر هغې څومره بتري

کوم مهال چي دي یَوه ډنډه کړه پورته
شل ډنډې شوې را اوچتي ستا و لور ته

اوس که ستا له خوا را پورته یو توپک شي
شل توپکه به هغه دم درته ډک شي

زړهٔ دي مات شو، سر دي مات شو په دې لار کې
که توپک اخلې نو مرې به په دا کار کې

که ده ګرانه زندګي درباندي ډېره
کړه د اوسپني کلا تر ځان چاپېره

او د اوسپني کلا ده خوږه ژبه
دي په امن چې د چا ده خوږه ژبه

۳ جون ۲۰۰۸ع

# لاړښود

کوټل شوي وو زموږ دا خوږمن زړونه
په درد ډکه وه د هري سينې خونه

وې په تن کي مو لمبې بلي د قهر
را ختلي مو نوکونو ته وو زهر

وو بېتابه د هر چا لاسونه دواړه
چي را ټينګه کاندي ژر د دښمن غاړه

په دې حال مو دَ ے تر هر چا ښۀ خبر ؤ
په خپل ځان او خپله پوهه يې باور ؤ

په هنر هنر يې ټول سره را ټول کړو
د خپل خيال په ترازو کي يې موږ تول کړو

www.sikaraam.com

ځان ته دهٔ زمونږ د وَس اندازه وکړه
په ښهٔ شان يې د هر کس اندازه وکړه

له دا وروسته يې نو ټول دې ته تيار کړو
چې ور لوټي لوټي ژر د غليم ښار کړو

دَے له مخه شو او مونږ په دهٔ پسې وو
د سيلاب غوندي روان څپې څپې وو

دَے سالار ؤ اوس او مونږ يې جنګيالي وو
لکه دَے داسي مونږ هم ټول ننګيالي وو

وو روان چې د غليم ښار کلابند کړو
سم هغهٔ ته زور د مټو ور څرګند کړو

---

چې کوټلي يې وو داسي زمونږ زړونه
په غم ډکه کړه نن مونږ د هغهٔ خونه

زور د مټو مو دا رنګه ور څرګند کړ
چې دننه مو په ښار کي کلابند کړ

ترې را تاو لکه زمري ټول شا و خوا شوو
د دېوال په نړوَلو يې لګيا شوو

په دې حال کې وارخطا راته غليم شو
سپين بېرغ يې راته پورته کړ تسليم شو

راته لري ور د ښار د دروازې شو
سالار مخکې ؤ، لښکر يې ورپسې شو

ور دننه شول دې ښکلي ښار ته واړه
ککرۍ يې نن اوچتې وې له وياړه

ښار ساتونکو وسله اېښې وه پر مځکه
د کور لاره وه له هر چا څخه ورکه

پوهېدل نۀ په ولاړه، نۀ په ناسته
مورې لګيا وو چې ترې هر څۀ راوړو لاس ته

ټول تارونه د خطر مو دلته پرې کړل
د ښار خلک مو دا رنګه بې وسلې کړل

چي و چا ته یوه ستن هم نۀ شوه پاته
دښمن و خوړله داسي بده ماته

---

چي کوټلي يې وو داسي زموږ زړونه
ورانه کړې مو وه نن د هغۀ خونه

اوس مو غوښتل چي د سوبي جشن جوړ کړو
موږ د دې ګټلي لوبي جشن جوړ کړو

او د داسي کار دپاره په دې ځای کي
یو محل جوړ ؤ د دغه ښار په پای کي

و هغۀ ته وه بس یکي یوه لاره
شوه یې خلاصه دروازه زموږ دپاره

موږ ور مخ لکه سېلاب څپې څپې شوو
د محل طرف ته یو په بل پسې شوو

مګر دا ځل نو سالار د مخه نۀ شو
را پسې تر شا په شاني د شپانۀ شو

موږ رمې غوندي محل ته شوو دننه
کوم مهال چې واړه هلته شوو دننه

پر سر باندي مو عذاب راغے له پاسه
دروازه راپسې بنده سمدلاسه

زموږ خپل دغه سالار کړله پخپله
او کیلي یې ښۀ په قلف کې و پېچله

قلف چې بند شو، ترې یې بېرته را بهر کړه
داروغه ته یې د دغه زندان ورکړه

۴ جون ۲۰۰۸ع

# د تن غړي

{د حضرت علي ؓ د یوهٔ قول په رڼا کي}

په وجود چي مي لُوی خدای وو پوري کړي
ستر ګي، لاس، پښې، خلُهٔ، غوږونه او نور غړي

دا هر یو زما نوکر، زما غلام ؤ
په چوپړ زما به بوخت سهار ماښام ؤ

دغه هر نوکر په ما څَکل خوندونه
دغه هر غلام په ما خوړل قندونه

په دنیا کي که هر نور ؤ که هر رنګ ؤ
په دنیا کي که هر ساز ؤ که هر شرنګ ؤ

په دنیا کي که هر ډول خوشبویي وه
په دنیا کي که خوارهٔ ؤ که ښادي وه

چي زما به پکي کوم يو شے په کار شو
هر يو غړے د بدن به مي تيار شو

چي را وا يې چَوي ماته په لمن کي
وم خوشحاله په دا هسي انجمن کي

چي تمام غړي يې وو زما دپاره
مخ يې نۀ اړاوۀ هيڅ زما له کاره

که به زۀ ومه خوشحاله دوی خوشحال وو
که به زۀ وم په زاوال، دوی په زاوال وو

له ما نۀ شول په يَوۀ حال کي هم سترګي
سترګي، لاس، پښې، خُلۀ، غوږونه او نور غړي

---

سترګي، لاس، پښې، خُلۀ، غوږونه او نور غړي
وو دا هسي نوکران چي خدای راکړي

ورو ورور واړه پر خپل وخت باندي زاړۀ شول
چي زاړۀ شول نو عجبه سخت درانۀ شول

چې درانۀ شول نو زما د ورږو بار شول
درواغ نۀ وایم، رښتیا د ورږو بار شول

تر دې بار لاندې مې ملا لاړه کړه شوه
تر دې بار لاندې مې سا لکه اره شوه

تېرېده را تېرېده مې پر خپل ستونې
په بیا بیا حلالېدمه په ژوندونې

کشاوۀ مې دغه بار تر خپله وسه
خبر نۀ ومه له داسې یَوۀ کسه

چې وېرېږې لږ و ډېر له خپله خدایه
دا زما درانۀ هډوکې تر څۀ ځایه

پر ورېه راسره واخلې د ګور خواته
تر سرحد واړوې ما بلې دنیا ته

دغه حال ګوره ؤ چا "مرګې" ته وړے
هغه ؤ دومره همت راسره کړے

بل جهان ته یې له ما سره وو وړي
سترګي، لاس، پښې، خُلهٔ، غوږونه او نور غړي

---

سترګي، لاس، پښې، خُلهٔ، غوږونه او نور غړي
په خوارۍ ما بل جهان ته وو راوړي

په دې ځای کي دا ټول ماته په بل شان شول
نوکران وو اوس سپین سترګي دښمنان شول

دا سپین سترګي دښمنان دې ته تیار شول
ټول د حشر پر مېدان دې ته تیار شول

چي زما خلاف هر یو خپل ځان ګواه کړي
د خدای مخته مي بیان هره ګناه کړي

بیا چي و شوه اجازه ورته له خدایه
نو را پورته به شو یو له خپله ځایه

او ویَل به یې په ما یې کړې غلا ده
هغه بل به ویل، بده خو لا دا ده

دهٔ پہ ما باندي ځبېښلې پردۍ شونډې
بل بہ وې، پہ ما يې حق و خوږ د کونډې

پہ دې توګہ چې ما څومره بد وو کړي
دُوی مېدان تہ وو د حشر ټول راوړي

غټ يې درمن دلتہ ډېر د قاف تر غرهٔ شو
اوس نو فضل کہ د خدای چرتہ و نۂ شو

سرهٔ دوزخ تہ بہ دُوی هم راسره رغړي
سترګې، لاس، پښې، خُلۂ، غوږونہ او نور غړي

۷ جون ۲۰۰۸ع

# زما شپیلۍ

یــوه پېـغـله ناخبـــره لـــه جهـانه
و اوبو ته د چینې وه را روانه

پر وږه باندي یې پروت خالي منګے ؤ
په سپین لاس کي یې صفا سپین کټورے ؤ

زۀ په خپله لېونۍ ځواني غره وم
له چینې سره نزدې ولاړ ښکاره وم

ما ویَل دا بې نیازي به یې کرم ورکه
دا که هر څو ځان ته وایي ملایکه

خو را اړوي به ماته سترګي توري
په نظر د سوداګر به راته ګوري

www.sikaraam.com

په غورځنګ به يې راځي د زړګي وينه
ژر به پوهـ شي چې څهٔ شے ده مسته مينه

مګر ما چې څهٔ وَيَل هغسې نهٔ وه
په څرګنده که هغه ټوله زړهٔ زړهٔ وه

په مزاج کي د مرمر د بت په شان وه
نهٔ خبره په زاړهٔ او نهٔ په ځوان وه

په واړهٔ ګام شوه تر ما اوبو ته تېره
له هر څهٔ نه بې پروا اوبو ته تېره

خپل منګے يې د اوبو پر غاړه کښېښود
کټورے يې د اوبو پر غاړه کښېښود

---

هغه پېغله چې تر ما شوه داسي تېره
د رنې چينې په خوا شوه داسي تېره

نو ورو ورو شوله لګيا چې منګے ډک کړي
خو ما نهٔ غوښتله دا چې منګے ډک کړي

شوم لګیا چي دا اوبهٔ کړم ترې نه پاته
پام را واړوم د دې د ځان و خوا ته

خُلهٔ مي کښېښوده پر خپله شپېلۍ باندي
چي نغمې يې شوې رواني وروسته وړاندي

ورته و نيو غوږ هم بوټو او هم کاڼو
ګډا پېل کړه ورته هري خوا ته پاڼو

خو پر دې باندي يې هيڅ اثر و نهٔ شو
په دا هسي حال کي بل هم يو کار وَ شو

يو سپين آس پر لاره باندي را روان ؤ
پر دې آس باندي سپور تور غوندي يو ځوان ؤ

د دې ځوان ؤ ښايسته توپک په غاړه
دې چي وليد نو په بېړه شوه ولاړه

منګے پاته شو، چينه يې شوله هېره
په دې ځوان پسې يې ښخ کتل تر ډېره

وه چي څنګه اوس هغسي پاته نهٔ شوه
د مرمرو نجلۍ نرمه شوه، زړهٔ زړهٔ شوه

---

هغه پېغله د چينې پر دغه غاړه
وه تر ډېره پوري دغسي ولاړه

چي منګي او کټورې يې وو راوړي
وو هغه يې هم زما په شان هېر کړي

دا ولاړه د تور څوان په نندارہ وه
په خپل خيال کي د هغهٔ تر شا سپره وه

ما به و کتل شپېلۍ ته او بيا دې ته
په حېرت کي ومه ډوب دې ننداري ته

محسوس کړے مي په دا وخت کي يو لاس ؤ
چي يو چا ايښے زما پر وږه پاس ؤ

چي مي واړولې سترګي کله شاته
وه نزدې يوه بوډۍ ولاړه ماته

پر زړو چاودلو شونډو يې مسکا وه
پوهېدلې په خبره باندي دا وه

راته و يې وېَل ځوانه ځان خبر کړه
د دې دنګو غرو له شانه ځان خبر کړه

دلته باز د خلکو خوښ بلبل يې هېر دے
تر شپېلۍ د تور توپک زړهٔ راکښون ډېر دے

که دا غواړې چي دي پېغلې درته خاندي
نو بيا ورکړه دا توپک پر شپېلۍ باندي

۸ جون ۲۰۰۸ع

# ورک ماشوم

چې له خپله کاره راغلم کله کور ته
د کور بام ته په دا و ختمه پورته

چې یې سمه له نزدې ننداره وکړم
ځان پرې پوه کړمه او بیا یې چاره وکړم

تېره شپه ؤ په باران کې څڅېدلے
ډېر ګنده ؤ په باران کې څڅېدلے

ساعت پس چې د خپل کور له دغه بامه
یو ځل لاندې لاړ نظر زما ناپامه

را روانه یوه پېغله په ورو ورو وه
نوک یې ونیو چې تر ما په تېرېدو وه

چې خبره یې کوله وارخطا شوه
خو بیا هم یې دا ویَل راته لګیا شوه

چې ببخې د ګرځېدو نهٔ یم اوس نوره
ماشوم ورور مې را وتلے دے له کوره

په هغهٔ پسې مې ځان دے ستړے کړے
و مې نه مونده په هیڅ ځای کې هم سپېرمړے

تهٔ لړ و ګوره، له تا سره خو نشته؟
زهٔ حیران شوم چې "له ما سره خو نشته؟"

بیا چې و ګورم ښهٔ سم نو ورته وایم
"نهٔ نهٔ زهٔ خو پر دې بام باندې تنها یم"

---

چې یې واورېده له ما دغه خبره
لکه نهٔ چې وي رښتیا دغه خبره

په تلوار هغه له ما روانه نهٔ شوه
ژر پر لار هغه له ما روانه نهٔ شوه

په کتو يې وې دا رنګه سترګي دواړي
لکه دا چي دا کوم څوک دا مهال غواړي

هغه پاس زما د کور پر دغه بام وي
زهٔ يې نهٔ وينم د دې ښهٔ ورته پام وي

بيا چي تله نو هم په نهٔ زړهٔ شوه روانه
داسي نهٔ وه چي په ښهٔ زړهٔ شوه روانه

مخته تله مګر بيا بيا يې کتل شاته
پر حال باندي يې افسوس راغۍ و ماته

ما ويَل دا به تر څو دا هسي ګرځي
خوارکۍ به په کوڅو دا هسي ګرځي

دا ماشوم بلا وهلې ګوره څهٔ شو
مځکي و خوړ که آسمان ته په خاتهٔ شو

بيا مي و ويَل، دا هم ډېره ساده ده
آس د عقل ښايي نهٔ لري پياده ده

ورک ماشوم چي لټوي څوک پر بام پورته
باور نهٔ کوم چي بيايي به يې کور ته

---

بيا چي شوم را کوز له بامه په دا حال کي
نو هم ورور مي د دې پېغلي ؤ په خيال کي

ما ويَل بلا وهلې ګوره څهٔ شو
مځکي و خوړ که آسمان ته په خاتهٔ شو

چي مي دغه اندېښنه شوه ښه ژوره
هغه وخت چا راته وکړه دا خبره

چي تهٔ څله يې لګيا په خوشي فکر
چي کوې د دغي کومي پېغلي ذکر

هغه ده ښېخي بې وروره او بې خوره
ده يواځي هم له پلاره هم له موره

چي ورور نهٔ لري نو ورور يې څنګه ورک شو؟
په دې ماته ځان ښکاره هغه هلک شو

چي د دغي ښايستې پېغلي په کار ؤ
آواز کړے هغې ماته په وار وار ؤ

مګر ما خبره وا نهٔ وريده سمه
ماشوم نهٔ وم مګر پوهه مي وه کمه

وو غوږونه مي د عقل کاڼهٔ دواړه
په خالي لاس هغه ځوک راځخه لاړه

ياداوهٔ چي يې ورک ورور خو زهٔ يې غوښتم
ؤ پر خُلهٔ يې ذکر نور خو زهٔ يې غوښتم

*۱۵ جون ۲۰۰۸ع*

# دېوال

چې له تاسي مرور ستاسي نصيب ؤ
ستا بابا له غريبانو يو غريب ؤ

دغه وخت چې مې تۀ مخته وې ولاړه
صراحي وه د خيام ستا هسکه غاړه

سپين تندي دي ګونجه نۀ درلوده وريں ؤ
ستا بارخو په سپين کې سور، په سرۀ کې سپين ؤ

په دوو سترګو کې دې يو سمندر نور ؤ
په سرو شونډو کې دې يو درياب سرور ؤ

غونډه زنه دې و خال ته اړه نۀ وه
ستا ښکلا د کشمير شال ته اړه نۀ وه

په رښتیا وې د دې وړ ستا زلفې تورې
چې یې سترې ځان هوسا کاندي په سیورې

ښکارېدې لکه سپوږمۍ تهٔ شنهٔ آسمان ته
د هر شي پام دي را ګرځاوهٔ خپل ځان ته

چنارونو اخست خوند دا ستا له قده
باچهې دي د ښکلا وه بې سرحده

دغه دومره ښکلا ټوله وه ستا خپله
پکې هیڅ پور کړي نهٔ ؤ تا له بله

ټوله تهٔ وې چې مي مخته وې ولاړه
صراحي وه د خیام ستا هسکه غاړه

بیا چې کله خپل نصیب درسره یار شو
ستا بابا په امیرانو کي شمار شو

دغه وخت چې مي بیا مخته وې ولاړه
د سرو زرو غاړګۍ دي وه په غاړه

تر پېزوان دي وې خوږوکي شونډي لاندي
ځړولے دي ۇ ټيک پر تندي باندي

لګولے دي پر زنه باندي خال ۇ
اچولے دي پر سر د کشمير شال ۇ

په کجلو دي وې دواړي سترګي توري
ښکارېدل دي په لباس کي راڼۀ ستوري

خوشبويي دي لګولې د ختن وه
د ختن وه که د کوم يوۀ وطن وه

بند په دې زر او لباس کي زما پام ۇ
ستا وجود تر دې دېوال رانه نهام ۇ

په ستاينه چي دي ډک زما ګفتار ۇ
هغه تۀ پخپله نۀ وې، ستا سينګار ۇ

در وتلای نۀ شوم زۀ ستا له زېوره
ستا کړۀ وړۀ مي ټول غايب ۇ له نظره

او حال دا چي تهٔ مي مخته وې ولاړه
د سرو زرو غاړکۍ دي وه په غاړه

---

چي نصيب نور مهربان ستا پر بابا شو
تاج و تخت په ګوتو ورغلل، باچا شو

دغه وخت چي مي بيا مخته وې ولاړه
د محل د هغه لوی حوض پر غاړه

چي اوبهٔ يې تکي شنې لکه آسمان وې
فوارې په چمنونو کي چالان وې

تخنولې يخ شمال د ونو پاڼي
وې خوشحاله په دا حال د ونو پاڼي

پر هر ګل پراتهٔ د پرخي سپين غمي وو
د هوا وزر لاندهٔ په دا نمي وو

داسي مينځي دي لګيا وې په خدمت کي
لکه حوري چي څوکويني په جنت کي

بند په دغه چاپېرچل کې زما پام ؤ
ستا وجود تر دې دېوال رانه نهام ؤ

په ستاینه چې دې ډک زما بیان ؤ
هغه تهٔ نهٔ وې، د دې څېزونو شان ؤ

دا هر څهٔ ښکارېدل ډېر نزدې و ماته
ستا کړهٔ وړهٔ او ستا سینګار تللې وو شاته

تهٔ که څهٔ هم وې نزدې راته ولاړه
د اوبو د یَوهٔ شنهٔ حوض پر غاړه

۲۶ جون ۲۰۰۸ع

# وَ اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَالاَ يَفْعَلُوْنَ

الشعراء – آيت ٢٢٦

او بې شکه دوی (شاعران) هغه څۀ وايي چې کوي يې نۀ

زۀ شاعر وم ملغلره مې هر خيال ؤ
بيان کړے مې په شعر کې دا حال ؤ

چې زړګے دے يوې پېغلې له ما وړے
په ژوندون يې رانه مړے دے جوړ کړے

راپسې يې د بلا غوندې بېلتون دے
په ازغيو مې سورَے سورَے ژوندون دے

يمه تږے او سراب زما نصيب دے
د خوږو شونډو کوثر يې د رقيب دے

چې خواخوږي مې خبر په دغه حال شول
زما مخې ته را غونډ ټول په دې خيال شول

چي مي وکړي يو ځۀ مرسته په دې لار کي
اساني راله پېدا کړي په دا کار کي

خو پوښتنه چي يې وکړه نو حېران شول
له جوابه مي په دې سخت پرېشان شول

چي دا کومه شالېلا چي ما ستايله
په ژړا به ومه دا چي ما ستايله

په دوو سترګو هغه ما ليدلې نۀ وه
په خپل ژوند کي مي ربښتيا ليدلې نۀ وه

وم خبر يې نۀ له ځايه، نۀ له نومه
هيڅ اته پته يې نۀ وه را معلومه

---

زۀ شاعر وم ملغلره مي هر خيال ؤ
بيان کړے مي په شعر کي دا حال ؤ

چي په جنـګ کي چي بدل نولس په شل کړي
ماتې بل ته په شا ورکړي، برے خپل کړي

دې مقصد له ښځه توره ښځه لاس وي
دغه کار له ښځه سپور وي ښځه آس وي

دا او دغسې ډېر ځۀ د جنګ په اړه
بيان کړي وو ما ښۀ د جنګ په اړه

نو په دا تللې تر لري آوازه وه
چې په جنګ کې تجربه زما پخه وه

مخامخ بيا يو ولس شو چرته جنګ ته
هر سړي يې توره واچوله ښځګ ته

ترې تيار چې شو لښکر، زۀ يې سالار کړم
آس يې راکړ او لګيا يې په خپل کار کړم

پر دې آس چې سپرېدم نو دوی حېران شول
او چې سپور شوم نو په دې سخت پرېشان شول

چې د آس ملونې ما سمه نيواى نۀ شوه
نو په دا راسره دا ناشونې و شوه

آس په غورزو پرزو سر شو د دُوی وړاندي
زهٔ یې و لوېدم ډېر بد له زینه لاندي

---

زهٔ شاعر وم ملغلره مې هر خیال ؤ
بیان کړے مې په شعر کې دا حال ؤ

چې یم تللے د سلوک پر پاکه لاره
ځلولے مې دے زړهٔ لکه هینداره

تجلې پکې د خدای راته ښکارېږي
روښان مخ د خپل اشنای راته ښکارېږي

چې یې لوستے زما دغه روڼ کلام ؤ
هغه کس به نو که خاص ؤ که به عام ؤ

لاسنیوي ته به زما وو ډېر لېواله
دا یې غوښت چې ځان را و رسوي ماله

په دې هیله چې زما تر نظر لاندي
سفر وکړي د سلوک پر لاره باندي

د عرفان دا هسي تږي ټول لګیا وو
دلته هلته په لټون اخته زما وو

که خلوت، که خانقاه که کور د خدای ؤ
دُوی په ما پسې کتلے هر پاک ځای ؤ

شپه و ورځ په دا لټون وو سرګردانه
مګر هغه وخت شول ټول سخت پرېشانه

چې یې و موندلم زهٔ په مېخانه کې
پوره ډوب وم د شرابو په پیاله کې

۴ جولای ۲۰۰۸ع

www.sikaraam.com

# زما برخه

چيغه پورته شوه چې خدای مو مهربان دے
لُوی سخي يې د سخيانو را روان دے

اراده يې دا ځل کړې ده ښه کلکه
چې و هر چاته لمن کاندي ور ډکه

هيڅ وګړے به بې برخې پاته نۀ شي
د مودو مودو ډېر ورې به ماړۀ شي

سُستي مۀ کوئ بېدار کړئ خپل ځانونه
ښۀ راغلي ته يې تيار کړئ خپل ځانونه

په ښو ورته جارو کړئ لويه لاره
مېدان و دروئ رون لکه هينداره

را دننه چي شي دَے دغه مېدان ته
دا سپوږمۍ چي شي را ګډه دې آسمان ته

په قطار کي شا و خوا باندي را ټول شئ
دے به وي لکه سپوږمۍ تاسي يې شپول شئ

په ځولۍ کي به يې لويه خزانه وي
په ښي لاس کي به يې ښکلې پېمانه وي

ورکوي به په هغې يو څۀ هر چا ته
هيڅ وګړے به بې برخي نۀ شي پاته

د دې واري اراده لري ښۀ کلکه
چي و هر چاته لمن کاندي ور ډکه

---

چيغه پورته شوه چي خدای مو مهربان دے
لوی سخي يې د سخيانو را روان دے

په کار دا ده چي جارو شي ورته لاره
مېدان و دريږي روڼ لکه هينداره

وه دا چيغه اورېدلې هر وګړي
خپل کارونه يې وو تښول و شاته کړي

له ملنګه بيا د کلي تر بخيله
وو راغلي خلک تښول په لويه هيله

خو ولاړ پر خپل خپل ځاى وو داسي واړه
لکه نن چي وي کار تښول زما په غاړه

چا ويَل راته چي دې کار ته ولاړ شه
چا ويَل په هغه بل کار پسې لاړ شه

چا ويَل کړه دا اغزَے له مخه لري
چا ويَل کړه هغه شَے له مخه لري

او ما هم په دا هر څۀ کي ليده ګټه
له هيڅ کاره به مي نۀ کوله نټه

سرۀ اغزي مي بدلول غوښتل په ګلو
ومه دا رنګه لګيا په هلو ځلو

لکه نن چي دا سخي راځي تش ماته
له ما پرته نظر نۀ کوي بل چا ته

---

چيغه پورته شوه چي خدای مو مهربان دے
لُوی سخي يې د سخيانو را روان دے

مورِ لګيا شوو چي صفا کړو ورته لاره
مېدان و دروو روڼ لکه هينداره

شوم په دغه کار کي زۀ تر ټولو ستړے
د ستړيا په دغه حال کي وم خوب وړے

چي هغه راتۀ نو زۀ داسي ويدۀ وم
چي په دې خبره هيڅ هم خبر نۀ وم

چي هر چا ده ترې اخستې خپله برخه
چي را ويښ شوم اوبۀ تېري وې له ورخه

لُوی سخي وو د سخيانو بېرته تللے
پاتېدای په داسي حال کي شي څوک غلے

**ما په چيغو چيغو و ويَل چي کله**
**هغه راغې، تاسي وينئ نهٔ کړم زهٔ څله؟**

**خپله برخه ده هر چا ترې لاس ته کړې**
**خو زما برخه مو ده په سېلاب وړې**

**چي د کار وخت ؤ هر چاته ومه ياد زهٔ**
**نو د وېش په وخت مو ولي کړم برباد زهٔ**

**دُوی ويَل تهٔ هم دغسي نهٔ يې پاته**
**خوږه برخه د خوب و رسېده تاته**

*۱۰ جولای ۲۰۰۸ع*

# کچکول

ناقراره مې له درده بیا زړګے دے
پکي پاته دا ارمان لکه اغزے دے

چې مې ستا د مخ کاتۀ په برخه نۀ شول
زما خوار دغه خوارۀ په برخه نۀ شول

په دې نۀ چې داسې تا په خپله خوښه
ستني و ایستې زما د زړۀ تر غوښه

تۀ خو ماته په رښتیا سترګې په لار وې
دې خبرې ته بېحده ناقرار وې

چې په ما وکړې د خپلې ښکلا څکه
په خوږو یې کړې پیاله د زړۀ را ډکه

مګر ما د زړهٔ پیاله وه تر شا کړې
داسي و ګڼه چي نهٔ مي وه راوړې

را وتلې چي سهار ومه له کوره
روان شوې چي پر لار ومه له کوره

په دا کور کي مي پرې اېښې ټول کھول ؤ
را اخستې مي ترې يو خالي کچکول ؤ

دې کچکول چي را دننه کړم دنيا ته
پام مي نهٔ ؤ د چا مخ د چا ښکلا ته

وم يې پوھ نهٔ په ولاړه نهٔ په ناسته
ما کتل د خلکو جېب، د خلکو لاس ته

چي را واچوي څهٔ مال په دې کچکول کي
بند مي ټوله ورځ ؤ خيال په دې کچکول کي

ما ويَل که تر ماښامه څهٔ را ټول شي
په خېرات د خلکو ډک زما کچکول شي

دي بچي چي مي په کور کي وړي پاته
دا به وړمه په تلوار د هغو خوا ته

چي په خپل لاس برابر ورته خواړهٔ کړم
چي په خپل لاس يې نن شپه خو ښهٔ ماړهٔ کړم

داسي وم دې تش کچکول تر تا تېر کړے
د بچو غم وې تهٔ سم له ما هېر کړے

---

را وتلے چي سهار ومه له کوره
روان شوے چي پر لار ومه له کوره

وم روان، نهٔ مي ولاړه وه نهٔ ناسته
ما کتل د خلکو جېب، د خلکو لاس ته

دا جېبونه او لاسونه يو رنګ نهٔ وو
ډېر تر بدو لا هم بد وو، ډېر بيا ښهٔ وو

ځيني تنګ په شان د زړهٔ د يو بخيل وو
ځيني پوهـ وو په سخا باندي، اصيل وو

ما په منځ کې د دې ټولو ورځ کړه تېره
له کچکوله مې بهر دنيا وه هېره

چې ماښام له کوم خېرات را سره ټول شو
په هغۀ باندې ښۀ ډک زما کچکول شو

دا مې و ويَل په کار ده اوس نو ستون شم
يو ځل بيا د خپل کورګي خوا ته په يون شم

دغه وخت راته تۀ بيا سترګې په لار وې
دې خبرې ته بېحده ناقرار وې

چې په ما و کړې د خپلې ښکلا څکه
په خوږو مې کړې پياله د زړۀ را ډکه

مګر ما د زړۀ پياله وه تر شا کړې
داسې و ګڼه چې نۀ مې وه راوړې

خپل کچکول مې وو د دوو سترګو په وړاندې
څۀ مې نۀ ليدل تر دې کچکول دباندې

**نۀ مي مځکه، نۀ مي ياد چرته فلک ؤ**
**دې ته ځير وم چې کچکول مي دا وخت ډک ؤ**

**ما ويَل بچې مي کور دي وړې پاته**
**دا به ورمه په تلوار د هغو خوا ته**

**چې په خپل لاس برابر ورته خوارۀ کړم**
**چې په خپل لاس يې دا نن شپه خو ماړۀ کړم**

**داسې وم دې ډک کچکول تر تا تېر کړے**
**د بچو غم وې تۀ سم له ما هېر کړے**

---

# پای